

دوېمه شعري ټولګه
سپرلي به ضرور راځي
منتظر بېټنی
کلانکوټ ټانک

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحیمؕ

دوېمه شعري ټولګه

# سپرلے به ضرور راځي

منتظر بېټنے
ګلانکوټ ټانک
چاپکال : جولائي ۲۰۱۰ ء

حقوق د بنات ګل دي
*************************

# کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | ❊ | سپرلے به ضرور راځي |
| وېناوال | ❊ | منتظر بېټنے |
| چاپکال | ❊ | جولائي ۲۰۱۰ء |
| چاپځاے | ❊ | دانش خپرندویه ټولنه پېښور |
| دکتابونوشمېر | ❊ | ۱۰۰۰ ټوکه |
| کمپوزچارې | ❊ | سلیم قرارکنړافغانستان(حال)نورنګ ګرځنده نمره: ۰۳۰۱۸۰۷۷۴۰۴ |
| د توریو کتونکي | ❊ | جمشید، بنات ګل ، سلیم قرار |
| بیه | ❊ | سل(۱۰۰) روپۍ |

*************************************************

## دترلاسه کولودرکونه

❊۔ عبدالله بك ایجنسي ټربفك پوائنټ ټانك ۰

❊۔ نجیب بکسپلرسراے نورنګ۰

❊۔ حمزه بك ډپو چوك بازار بنو ۰

❊۔ غزالي بك هاؤس لکي مروت ۰

# ترون

❊ زما د والد صېب د ډېر نژدې او ګران ملګري اروابښاد اول خان بېټني په نامۀ چې زما د والد صېب د شاعرئ بې کچه لېوال او مينه وال وو۔ او زما د والد صېب د کتابونو د چاپ کېدو ارمان يې لۀ ځان سره خاورو ته يووړو ۰

❊ زما د والد صېب ديو بل خوږ او زړۀ ته نژدې ملګري اروابښاد انورخان ايډوکېټ په نوم ، چا چې زما د والد صېب په دوستئ هم فخر کاوۀ او په شاعرئ يې هم ۰

"بنات ګل"

# سپرلے به ضرور راځي

د شلمې صدۍ وروستۍ نيمايي په ورومبۍ لسيزه کښې چې کومو شاعرانو سر راپورته کړے او سربالا پاتې شوي دي ـ منتظر بېټنے په هغو کښې شامل دے ـ چې د نيمې صدۍ نه زياته موده يې د ادب په مېدان کښې ځغل کړے او يو نۀ ستړے کېدونکے قلمکار ثابت شوے دے ـ چې نۀ خو په دې زړۀ چاودي سفر کښې چرته ستومانه شوے دے او نۀ يې د خپل فکري او نظرياتي منزل په موندلو کښې چرته د بې ضرورته عجلت مظاهره کړې ده بلکې ښۀ په حوصله ، په توله او نۀ ماتېدونکې ولوَله يې خپل فکري او فني سفر ته دوام ورکړے دے ۰

د منتظر بېټني په شاعرۍ کښې د تخيل پرواز ډېر اوچت دے او د خيالاتو د فراوانۍ تر مخه يې د شاعرۍ مختلف صنفي چوکاټونه هم تنګ او محدود ثابت شوي دي ـ چې د نور وسعت تقاضه کوي ـ او د مزيد بلنديو لټون کوي ـ او بيا 

د دغو خيالاتو او تصوراتو د اظهار دپاره ورسره د الفاظو ډېره لويه ذخيره هم شته ـ هم دا وجه ده چې شاعري يې د لغاتو درياب معلومېږي ـ خصوصاً د خپلې علاقې (جنوبي اضلاع) مخصوص لغات او تر ډېره حده متروك شوي الفاظ پهٔ ډېر هنر د خپل شعري ښکلا حصه ګرځوي ـ يعني د علاقايي ټکو ، نومونو او اصطلاحاتو استعمال ، د لهجې او غږونو د ادائيګۍ انداز او د روزمرې او محاورې د موقعې محل مطابق راوړل يې د ليك د اسلوب برخه ګرځېدلي دي ـ رښتيا خبره دا ده چې منتظر د تورو او لفظونو د مخصوصو غږونو او لهجوي اٰهنګونو سره سره د هغې شاته د لغوي او معنوي ضرورتونو فهم او ادراك هم لرلو ـ او د صوتي او صوري ښکلا د هم اهنګۍ پهٔ فن پوهېدلو ـ ځکه يې خيالات او تصورات د لفظي ترکيبونو غُربت نهٔ لري ـ او پهٔ نويو لساني تشکيلاتو کښې څهٔ مشکل نهٔ محسوسوي ـ ولې دا هم ياد ساتل پکار دي چې منتظر يواځې د لفظونو د جوړښت يا د تخيل پهٔ زور شاعري نهٔ ده کړې بلکې د خپل

ژوندي احساس پهٔ لمبه او د روڼ شعور پهٔ رڼا يې هم خپل تخليقي صلاحيت ته ښکلا او ځلا بخښلې ده ـ او پهٔ تصوراتي دنيا کښې اوسېدو پهٔ ځاے يې د خپل چاپېرچل ، معاشرتي ژوند او عصري حالاتو پهٔ تناظر کښې شاعري کړې ده ـ او د تخيل سره سره يې خپلې حسي تجربې هم پهٔ کار راوستې دي ـ ځکه يې شاعري د خپل دور د حالاتو اوواقعاتو ترجماني او عکاسي کوي ـ او د ادب دپاره د ژوند نمايندګي کوي ـ چې د نوي ژوند د تعمير خوبونه او ارمانونه پکښې څرګند او سربلند دي ـ او نوي کول ته د دغو خوبونو د رښتيا کولو پېغام ورکوي ـ د زوړ ، فرسوده او استحصالي نظام د ړنګولو او د يو ازاد او استحصال نه پاك نظام د قايمولو جذبه او حوصله ورکوي چې انسان پکښې ازاد ، خوشحاله او سوکاله وي ـ خصوصاً د پښتنو پهٔ دې خاوره پښتون د يو ازاد او خودمختاره قام پهٔ حېث خپل شناخت وګټي او د دنيا د ترقي يافته ملکونو سره سيال شي ۰

حقيقت دا دے چې منتظر بېتني د يو پوخ قلمکار او بالغ نظره فنکار پهٔ حېث ادبي دنيا

کښې خپله پېژندګلي کړې ده ـ ليك او تخليق يې پۀ فني او فکري لحاظ د بلاغت او بلوغت شاهکار ګڼلے شي ـ او د هغۀ د موقف د صداقت اظهار يا د صداقت د موقف اقرار بللے شي ـ ځکه د ليك او تخليق هره کرښه او هر لفظ يې پخپله دا ګواهي کوي چې خالق يې د تخليق پۀ وخت دا شعور لرلو چې دے څۀ ليکي؟ ولې ليکي؟ او چا دپاره ليکي؟ هم دا شعور د هغۀ پۀ هر شعر او د شعر پۀ هر ټکي او اٰهنګ کښې موجود دے ـ او د شاعر د موجودګۍ شهادت لري هم دا وجه ده چې لوستونکي دا محسوسوي چې منتظر بېتہنے هره لمحه پۀ خپل هر نظم ، هربېت ، هره مصرعه او هر لفظ کښې موجود دے ـ او هر نظم ، هربېت ، هره مصرعه او هر لفظ يې پۀ ځان کښې د وجود رنګ او خوشبو لري ـ يعني دواړه د يو بل شناخت ګرځېدلي دي ـ او د يو بل د تعارف وسيله منلي شوي دي ـ هم دغه د يو رښتيني تخليق کار د قول و فعل د يووالي او صداقت معيار دے ـ او هم دغه د يو ښکلي او اعلیٰ تخليق د حسن روح بلکې د روح حسن دے ـ او دواړه پۀ خپل خپل

ځاے خپل اعتبار او وقار برقرار ساتي ـ او د خپلو کتونکو او لوستونکو پهٔ رَویو ، ذهنونو ، نظرونو او سماعتونو کښې ځان له ځاے پیدا کوي ـ چې ورته د ژوند تېرولو ، مخکښې تللو او پهٔ خپل موقف د ودرېدلو رویه ، حوصله او سلیقه وربخښي ـ او د ژوند پهٔ معنیٰ ، معیاراو مقصد یې پوهوي .

منتظر بېټني د خپل قلم او فن نه هم دغه کار اخیستے دے او د هغهٔ قلم او فن هغه چاته او چرته تیټ کړے یا کوزسترګے کړے نهٔ دے ـ ځکه پهٔ ځاے وایي :

منتظره بېټنیه ! یا مجنون یا کلك پښتون یې
دغ کچکول کچکول سماج کښې چې د یوهٔ خداے منت بار یې

هم دغه سبب دے چې د هغهٔ پهٔ کلام کښې څهٔ قسم فکري تضاد نهٔ شته ـ هغهٔ چې څهٔ لیدلي او محسوس کړي دي د هغې اظهار یې پهٔ دیانت او صداقت کړے دے ـ او پهٔ فني ښکلا او خلوص یې یو نهٔ ماتېدونکے اعتبار وربخښلے دے ـ او دا کمال ډېر کم شاعران او فنکاران لري ـ خو منتظر بېټني د خپلې پښتو او پښتونولۍ پهٔ اقدار او

معیار چرې سودابازي نهٔ ده کړې ـ او نهٔ يې د مصلحت پسندۍ تر مخه پا خپلو پښتني رواياتو او رويو کښې څهٔ فرق او بدلون راوستے دے ـ خصوصاً د انساني شرف او آدميت احترام او اکرام يې تل پهٔ نظر کښې ساتلے دے ـ او د هغې د سربلندۍ دپاره يې خپل فکرونه لوګے کړي دي ـ او پهٔ عملي ژوند کښې يې د انسان ، انسانيت او انسان دوستۍ بېرغ تل جګ ساتلے دے ـ او پهٔ دې حواله يې چاته هم ټيټه نهٔ ده وئيلې ـ او نهٔ يې چرته سر خم کړے دے ـ ځکه پهٔ شاعرۍ کښې يې هم د پښتونولۍ او انسان دوستۍ عکس او غبرګ ډېر عيان او نمايان دے ـ او شاعري يې د انساني قدرونو او پښتني رواياتو ترجماني او نمايندګي کوي ـ او د خپل عصر د تقاضو پهٔ رڼا کښې د خپل پښتون اولس فکري رهنمايي کوي ـ او د معاشرې د يو ذمه دار فرد پهٔ حېث د منتظر بېټهني شناخت قايم ساتي ـ او دا ثابتوي چې منتظربېټهني د خپلې خاورې د يو اصيل او غېرتمند بچي پهٔ حېث خپل خيالات او تصورات د قام او خاورې دپاره پهٔ کار راوستي دي ـ پهٔ شاعرۍ کښې يې خپلې منصبي ذمه وارۍ سرته رسولې دي ـ او پهٔ دې حواله يې خپله جانبداري واضحه کړې او منطقي انجام ته رسولې ده ـ او همېشه يې دې ډاډمرسته اوملګرتيا کړې ده چې :

خو ، زهٔ مايوس نهٔ يم، خزان به ځي سپرلے به راځي
او زما يقين دے سپرلے به ضرور راځي ۰

سليم راز

# زمادپنځوسوکلونوملګرے
# اروابښادمنتظربېټنے

**********************************************************

دا د ۱۹۵۹ ء د اکتوبر میاشت وه چې زهٔ د امان الله دلسوز د کپړې دکان کښې ناست وم چې پهٔ دې کښې یونرے نرکوچکے زلے راګډشو۔ رنګ یې غنمي وو۔ سورسپین،کړهٔ وړهٔ یې ښکلي، قره قلي ټوپی پهٔ سر، تك سپین لباس کښې ډېر ښکلے لیدهٔ شو ـ د عمر پهٔ لحاظ د څلیرویشتو کلونو ځوان ، ما چې سترې مشي ورسره کول نو د دوئ پهٔ خولهٔ د "منتظربېټني" ټکے راغلو او ما ورته پهٔ ځواب کښې "سلیم نوشاد" ووئیل ـ نو بیا مو غېږې سره بدلې کړې ـ او حال مو سره اووېشلو دا زما د منتظر بېټني سره ړومبے ملاقات وو۔ هغې نه پس به مو روزانه ملاقاتونه کېدل ـ عن تر دې چې پهٔ ۱۹۶۰ کښې مو د "پښتو ادبي مجلس ټانك" پهٔ نوم یوه ټولنه جوړه کړه ـ او منتظر بېټنے صېب یې اولنے مشر سیکتر وټاکلے شو ـ دا ادبي مجلس د

منتظر صېب پهٔ کوششونو رجسټرډ شو ـ محترم جناب سلیم راز صېب د دې ادبي مجلس اساسي غړو کښې شامل وو ـ دا قیصې زهٔ د منتظر صېب د تعارف پهٔ خاطر نهٔ لیکم ـ ولې چې زما پهٔ فکر اروابښاد منتظر بېټني صېب یو داسې لیکوال وو چې د پښتونخوا هر هغه شاعر ، ادیب او لیکوال چې عمر یې د څلوېښتو نه پورته وي ، دا نهٔ شي کېدے چې هغوئ د منتظر صېب نوم نهٔ وي اورېدلے ـ اکثر شاعرانو خو به دے یقیناً لیدلے وي ـ ځکه چې پهٔ ټانك کښې مو د کلهم پاکستان پهٔ سطح پهٔ ۱۹۶۲ او ۱۹۶۴ کې دوه ډېرې درنې او لویې مشاعرې کړې وې ـ چې پکښې نوموړو، نامتو او لوړو شاعرانو ، لیکوالانو برخه اخیستې وه ـ چې مثال پهٔ توګه د یو څو کسانو نومونه اخلم ښاغلے اروابښاد اجمل خټك صېب ، ښاغلے اروابښاد ایوب صابر صېب ، ښاغلے اروابښاد محمد نوازخټك صېب ، ښاغلے سعدالله جان برق صېب ، ښاغلے سعیدګوهرتیراهوي صېب ، ښاغلے اروابښاد راحت سیال صېب (د مرغانو شاعر) او دغسې نور ـ چې که نومونه یې لیکم نوقیصه ډېره

اوږدېږي ـ او دلته هم هغه د مجلس ډېر اساسي غړي لکه ښاغلے ګل حېدر خاموش ، محمد احسان ـ مولوي احمد حسن لسوندي او ښاغلے عبدالرزاق زرګر یو پهٔ یو مونږ نه رخصت شول ـ هغوئ کښې څو ملګري پاتې یو ـ لکه الحاج امان الله دلسوز ، عابد کنډي صېب ، منظوراختر ، قیوم مروت صېب ، حسن زرګر ، جناب سلیم رازصېب چېئرمېن پښتو عالمي کانفرنس او راقم الحروف ـ نو زما خیال به ډېر غلط نهٔ وي که زهٔ دا اووایم چې د پښتو ډېر کم لیکوالان به داسې وي چې د ارواښاد منتظر بېټني صېب نوم یې اورېدلے نهٔ وي لا یې کتلے نهٔ وي ـ ارواښاد بېټني صېب به د پښتونخوا پهٔ هر ګُټ کښې ځان مشاعرې ته رسولو ـ ځکه خو هر شاعر د ټانك مشاعرې ته پهٔ راتلو باندې مجبور وو ـ منتظر صېب ډېر صابر انسان وو ـ ډېر مرنج مرنجان سړے وو ـ د یارانو یار سړے وو ـ زما دوه کلیوال ملګري عمرخان استاذ او حبیب الله استاذ د ارواښاد بېټني صېب پهٔ خوئ بوئ او خبرو مئین وو ـ دغسې زما کشر ورور ارواښاد عبدالرحیم استاذ خو بالکل د دوئ

پتنګ وو ـ چې رابه غلو نو کاپی پهٔ ترخ کښې به ورته حاضرشواو ډېر تر ناوخت پورې به یې شعرونه ترېنه لیکل او لګیا به وو مجلسونه به یې کول ۰

## ادبي خدمات

د منتظر صېب به زهٔ کوم کوم ادبي خدمت زباد کړم ـ لهٔ ۱۹٦۰ نه د پښتو ادبي مجلس ټانك پهٔ مختلفو عهدو پاتې شو او پهٔ ښکلي انداز کښې یې زمونږ رهبري وکړه ـ ډېرې مودې پورې به مونږ پهٔ ټانك کښې میاشتیزه مشاعره کوله ـ دوئ به بانګ حرم اخبار ته لېږله ـ پهٔ ۱۹۸۵ کښې د نیاز لواڼې صېب (اروابښاد) پهٔ کوششونو د"پښتو ادبي ټرون ټانك" پهٔ نوم یو نوے پلېټ فارم جوړ شو ـ چې منتظر صېب یې تر خپل ژوند ناظم اعلیٰ مقرر کړے شو ـ چې پهٔ دې کښې دیارلس ټولنې شاملې وې ـ او د هغوئ صدر او مشرسیکتران د ټرون غړي وو ـ منتظر صېب د صوتیاتو ماهر وو ـ او د پښتو املا یې ډېره زبردسته پوهه لرله ـ پهٔ ۱۹۷۳ کښې یې "پنځهٔ حرفونه او دیارلس اوازونه" پهٔ نوم یو منشور کتاب

چاپ کړو چې بنسټ يې پۀ صوتياتو او پښتو املا باندې پروت دے ـ پۀ ۱۹۸٦ کښې د انجمن ترقي پسند مصنفين لۀ خوا پۀ کراچۍ کښې يو عالمي کانفرنس وشو چې د ۵مارچ نه تر ۱۰مارچ ۱۹۸٦پورې جاري وو ـ دا انجمن پۀ ۱۹۳٦ کښې جوړ شوے وو ـ او ګولډن جوبلي يې نمانځلے شوه ـ پۀ ۱۹۸۱ کښې چې کله د ډېرو ريډيو سټېشن افتتاح پۀ ۱۵ جنوري د هغۀ وخت ګورنر اروابښاد فضل حق صيب وکړه نو د ړومبي پروګرام چې د "ګلدسته" پۀ نوم نشر کېدلو، دکمپيئرنګ اعزاز هم منتظر صيب ته حاصل شو ـ منتظر صيب د اهل قلم کانفرنس مستقل ورتلونکے غړے او صدارتي اېوارډ اخيستونکے ليکوال وو ـ يو ساده مزاج ، خاکسار او د يارانو يار سړے وو ـ خداے پاك ورله ډېر ځيرك نظر ورکړے وو ـ چې کومه پيشګويي به يې وکړه نو اکثر به سل پۀ سله صحيح پرېوتله ـ کلي ته به يو د رمضان شريف پۀ مياشت کښې تللو ـ نور به اکثر پۀ ټانك کښې پروت وو ـ او د يارانو خدمت دپاره به حاضر وو ـ لۀ کال ۱۹۹۹ خو به مستقل د اتوار پۀ ورځ ما سره کلي ته تللو

د ګل شپه به مو پهٔ يو ځاے وه ـ زمونږ دکلي ماشومانو هم پېژندلو ـ پهٔ کال ۲۰۰۰ کښې يې "د قطب ستورے" پهٔ نوم يو منظوم کتاب چاپ کړو ـ پهٔ مى ۲۰۰۷ کښې يې راته اووئيل چې دوه مسودې مې چاپ دپاره تيارې کړې دي چې يوه منظومه او بله د پښتو املا ده چې څوارلس حرفونه او دوه ويشت اوازونه نوم لري ـ ما ورته وېل چې ډېره ښه خبره ده ـ نو پهٔ ځواب کښې يې راته اووېل چې خبره خو ښه ده خو د ترهٔ پهٔ کور کلدارې نهٔ شته ـ ما ورته اووې چې وروري ! دا شعر خو د تا نهٔ دے ؟ چې :

کارونه خداے کوي ورځه خداے به دې نهٔ خړوي
خپله د پلار نيکهٔ زړه وظيفه هېره نهٔ کړې

بهرکيف څهٔ سر به مو خوږوم خو د ۱۷ جولائ ۲۰۰۷ هغه ورځ راغله چې د پښتو ادبي مجلس ټانك چې پهٔ کمره نمبر۵ مشهور دے ، پهٔ دفتر کښې ماسپښين د خوبه راپاڅېدو ـ ما چاراندام او لمونځ وکړو او دوئ ته مې لوټه راډکه کړه خو دے پاڅېدو او ويې وئيل "نوشاده وروره زهٔ لمونځ پهٔ اډې کوم(پهٔ اډه کښې کوم)او بيا کلي ته ځم" ـ د

کمرې نه اووتو او داسې اووتو چې بیا هغې کمرې ته رانغے ـ یو دوه ځله کلي ته بیمارپرسۍ دپاره ورغلم ـ په ۲۹ جنوري ۲۰۰۸ مې په ګرځنده فون ورته اووئیل چې که خېر وو زۀ سبا درځم ـ خو دۀ منع کړم ـ چې دې دوو ورځو کښې زۀ خپله درځم ـ اوس ټیك یم ـ چې د دوو ورځو پس یې سحر وختي شپږ بجې مشر بچي بنات ګل د دۀ لۀ فون راته فون وکړو چې ما فون خلاص کړو ، اواز مې یې وپېژندو ـ دے خاموش شو ـ زۀ پوهـ شوم ـ تپوس مې ترېنه وکړو چې ګني تاوان وشو ـ ځواب یې په اثبات کښې وو ـ د جمعې ورځ وه ـ یوه بجه مو خاورو ته وسپارلو ـ او مونږ ترېنه روان شولو ـ نن یې هغه بچے (بنات ګل) پس د مرګه هغه منظومه مسوده چاپ کوي ـ الله پاك دې ډېر عمر سره د توفیق ورکړي ـ امین

منتظر صېب د کال ۱۹۸۷ او کال ۲۰۰۰ په پښتو عالمي کانفرنسونو کښې نۀ صرف ګډون کړے وو بلکې هلته یې پرېزیډیم کښې ناستو کسانو د یوې برخې په حېث یې باقاعدګۍ سره مقالې هم پېشې کړې وې ـ چې په هغوئ کښې

یې د صاحب تصنیف د پښتو شاعرانو مشکلات بیان کړي وو ـ نن یې مسوده پهٔ داسې وخت کښې راته ملاو شوه چې زهٔ د انعام ګل خان سره پهٔ ګاډي کښې پېښو پهٔ لور روان یم ـ هغه موټر چلوي او زهٔ د منتظر صېب کتاب ګورم ـ چې پهٔ دې سوچ کښې ډوب شوم چې د خداے پاك څومره لوئ شان دے ـ دا حضرت انسان څومره بې وس دے ـ نهٔ یې پهٔ ژوند څهٔ اختیار شته او نهٔ ورته د مرګ پته ـ دنیا ته راتلل یې پهٔ نمبر دي خو تګ یې بې نمبره دے ـ نن منتظر صېب زمونږ پهٔ مېنځ کښې نهٔ شته ـ خو یادونه مو یې پهٔ زړونو کښې داسې مېشتهٔ دي لکه د ګل پهٔ مېنځ کښې خوشبویي ـ زهٔ خو د ادب یو ادنیٰ طالبعلم یم او منتظر صېب یو استاذ قادرالکلام شاعر وو ـ زهٔ به د هغوئ د کلام څهٔ تجزیه وکړم او څهٔ به پرې ولیکم ـ دې دپاره یې کلام ویونکو ته پرېږدم ـ کېدے شي لهٔ ما د علمي بې بضاعتۍ لهٔ کبله د هغهٔ کلام سره انصاف ونهٔ شي ـ ولې چې هغه څهٔ د بل معیار خبرې کوي ـ لکه وایي چې :

پتنګ نهٔ یم چې مستۍ نه سوزېدوباندې مئین یم
د خلیل غوندې پهٔ حقه سرو لمبو باندې مئین یم
زهٔ دبل معیار مئین یم رنګ وخوند نهٔ دے خیالمنې!
ستا لهٔ حسن و پېغلتوبه ستا پښتو باندې مئین یم

اروابښاد بېتهنے صېب حاسد نهٔ وو ـ لهٔ حسد نه لرې تښتېدو ـ هر کله به چې چا د چا متعلق د خبر ښېګړې د رسېدو خبره وکړه نو دوئ به خپل دا شعر وایهٔ چې :

خفه نهٔ یم باك یې نهٔ شته كه دنوروهم غمخواردے
ماته هم راپوره كېږي هم مې یاردے هم دلداردے

بېتهني صېب چې كله د مسلمانانو پهٔ لور مخ كړي نو لهٔ مشرق وسطیٰ نهٔ شي تېرېدے او دلته څهٔ دارنګ ګویا شي :

د زړګي پهٔ فلسطین مې یهودیان د غم قابض دي
دخوشیٔ عرب یې واړه تاڼ پهٔ تاڼ كړهٔ درپهٔ دركړل

خو منتظر صېب د پښتانهٔ پهٔ غم كښې ډېر دړدېدلو ـ او چې كله به یې د پښتني هېواد پهٔ لور مخ واوړېدو نو بې اختیاره به یې سوړ اسوېلے وكړ او ساندې به یې شروع كړې :

پېغلتوب دې خپل نصیب شه هم خوښي ستا مبارك شه
زما هم پام غلطېږي خپل اٰهونه زما ملهٔ دي
ستا پهٔ مینه اوخلوص به كه شكمن یم ځان دې وخورم
بیا هم پوهـ نهٔ یم چې ولې څهٔ وهمونه زما ملهٔ دي

اروابښاد بېتهنے صېب زما د خوښې لیكوال وو ـ ډېر مخلص او صابر انسان وو ـ ډېر ژور نظر یې لرلو ـ او لكه ما چې وړاندې لیكلي دي چې یو لیكوال

د خپل ليك پۀ قوت ژوندے پاتې كېدے شي ـ د رحمان بابا او خوشحال خان خټك نومونه نن هم د سوونو كلونو نه پس ژوندي دي ـ دا د دوئ د كلام اعجاز دے چې دومره وخت نه پس هم پۀ خپل قوت سره داسې ژوندي دي چې تر نن يې چا سر ټيټ نۀ كړو ـ نو د بېټني صېب نوم به هم انشأالله د كلام لۀ كبله پۀ همعصرو او نوي كول كنبې تر ډېره ژوندے وي ـ زما د دې خبرې تائيد چې يو ليكوال يا فنكار د خپل ليك يا فن پۀ زور ژوندے پاتې كېدے شي ، د سعدالله جان برق صېب هغه خبره ليكم چې كومه يې اثر صېب ته كړې وه ـ هغۀ ليكلي دي چې يو ځل اثر صېب راته ووئيل چې "هلكه برقه ! هسې دې پۀ ټوقو ټقالو ليكلو وخت تېر كړو داسې وكړه چې د فلانكي كلي د يو مرحوم شاعر پۀ كلام څۀ كار وكړه چې ژوندے شي" نو د برق صېب ځواب هم وګورئ ـ هغه ليكي چې ما ورته ووئيل چې "اثر صېب ! پۀ دې كلي كنبې يو ژوندے شاعر هم شته ـ زۀ وايم چې دا مې مړ كړے ـ تۀ هغه مړ راباندې ژوندے كوې ـ اثر صېب ! فنكار د خپل فن پۀ زور ژوندے پاتې

کېدے شي ـ پۀ سیمینارونو او اېوارډونو به یې د مرګ نه پس څۀ ژوندے کړي ـ چې پۀ کلام کښې یې د ژوندي پاتې کېدو قوت نۀ وي"

نو دا یو ناقابل تردید حقیقت دے چې د لیك پۀ زور سرے تر ډېره ژوندے وي ـ د مرحوم بېټني صېب ټول کلام د ژوندو دپاره د ښۀ ژوند تېرولو چل ورزده کوي ـ ځکه خو یې پۀ یوې خولې کول غواړي ـ نارې ورته وهي چې یو شئ ـ متفق شئ ـ ګنی ورك به شئ ـ ځکه خو یې د کتاب نوم هم د امېد نه ډك دے چې "سپرلے به ضرور راځي" خداے دې وکړي چې دا سپرلے راشي ـ ورمې یې رارسېدلې دي ـ صرف د غوټیو ټوکېدل پاتې دي ـ انشأالله هغه به زر ګلان شي ـ ولې چې :

څانګه به نن سبا کښې ګل شي

ما یې پۀ سر کښې سرې غوټۍ لیدلې دینه

نور دا تاسو او "سپرلے به ضرور راځي" کتاب ـ انصاف پۀ تاسو ۰

پۀ ډېر درناوي
سلیم نوشاد
صدر پښتو ادبي مجلس ټانك
۲۸ مۍ ۲۰۱۰

# زما د باباجي عکس

د پښتو ادب مېدان کښې پهٔ مثال لکه د غر وو
چې پهٔ ګرده پښتونخوا کښې ځلېدلے لکه لمر وو
شاعري يې عجيبه وه څهٔ پهٔ زړو باندې اثر وو
د خپل فن پهٔ زوَر او زېر باندې منلے دانشور وو
چې پهٔ ژونديې ارمانونه ووَمرګ ته بيړوندي شول
دغې خړې زمکې لاندې ورپهٔ غاړه غړوندي شول

څهٔ د امن سپين بېرغ وو، څومره لوَړ، څومره خوددار وو
چې پهٔ ژوند کښې نهٔ اخيستے د مېړې چېړې ازار وو
بې غرضه بې لالچه بس د هر يو سړي يار وو
علميت دولت پهٔ وجه پهٔ غنيانو کښې دے شمار وو
ځکه نن يې نوم پهٔ مړينې دژوندي غوندې بالهٔ شي
شخصيت يې او فطرت يې پهٔ درنې تلې تالهٔ شي

د حالاتو مقابله يې وچ پهٔ صبر لنهوله
خوشحالي که پرېشاني وه خپل ګوګل کښې يې ساتله
د ضمير اسپه يې هر وخت پښتونخوا وَړ کښې پووله
لهٔ پښتو ژبې يې بله بېخي ژبه نهٔ ستائيله

غټ ارمان یې ووېٔ زړهٔ کښې چې زمونږه جلاکوروے
وروړولي پښتونولي وے لهٔ یوهٔ نغري مواوروے

بختور وو، څهٔ نایابه ملغلره خداے پېدا وو
چې د ښېټ بابا لمسو کښې پېژندلے کل دنیا وو
لهٔ شاهانو سره شاه وو، لهٔ ګدا سره ګدا وو
چې د مرګ زېرے یې خور شو خلق دهٔ ته پهٔ دعا وو
هسې رنګ هیرې دنیاکښې همېشه نهٔ پېداکېږي
که پرې پڅ عقل رېګمال کړې دابه کله نهٔ سولېږي

چې ساه اخلي ساه بئې اوځي دا زهٔ نهٔ ، رب دي وئیلي
دا مو کلکه عقیده ده پهٔ سر سترګو مو منلي
دې دنیا ته ډېر ښهٔ خلق وو راغلي بیا دي تللي
چې نېټه یې پوره شوې څوك ترې نهٔ دي غړېدلي

اوس چې دا خلق رایادېږي مونږه څهٔ وکړو وژاړو
که لهٔ رب العٰلمین نه به دعا وَ دوئ ته غواړو
**********************************************

بنات ګل بېټنے
(د اروابنادمنتظربېټني مشر زوئ

❊

چې جهان کښې دے معروف پۀ تلطف
خپل عمل ماته ترې جوړ کړو مکلف

دست بسته لکه خبیب رض پۀ دار ولاړ یم
عشق نارې راته وهي چې لاتخف

پۀ هر څۀ کښې یې جلوه راته لیده شي
ښکته پورته ، ګېرچاپېره هر طرف

د یار یاد مې ملغلره پکښې پروت دے
خړپړ زړۀ مې دے پۀ مثل د صدف

چې تالیف یې ستا د حسن صحیفه کړه
صد رحمت شه پۀ خوارۍ د مؤلف

ژوند د نېك عمل ترې غواړي او که نۀ وي
"منتظر" نه دې خداے واخلي "س ، الف"()

() سا ( ساه )

❊

ښکـل کړه شـونډې رقیبانـو تـه ورښکـل کړه
اور زمـا د زړهٔ جـونګړې بانـدې بـل کړه

خپـل پـردې درپسـې ټـول پـهٔ کړو ګـوري
ښکلیـه لـږ خپلـې ښکلا سـره اتکـل کړه

غم خوښي کښې یې د درست جهان شامل کړم
څهٔ نـادره برخـه خـداے رابانـدې څـل کړه

مـا بـه خـود د فکـر ږمنـځ پـرې ماتولـه
تاتـه چـا وئیـل چـې زلفـې ول پـهٔ ول کړه

چې مړو زړونو کښې د ژوند احساس پیدا کړي
"منتظـره" چېـرې جـوړ داسـې غـزل کړه

****

❊

کــور پــهٔ کــور ګــدا غـونــدې سوالونـــه خوښـــوم ځکـــه
یـــار پســـې لټـــون کـــوم ګشتونـــه خوښـــوم ځکـــه

غـم او تفکـر د ژونـد ګاڼـه ده پـرې ښایستـه ښکـاري
ځـان لـره د مینـــې ډېـــر غمونـــه خوښـــوم ځکـــه

ګورم چې کشتۍ د حـوصلې مـې پکښـې ځـهٔ کـوي
بحـــر کښـــې د مینـــې ګردابونـــه خوښـــوم ځکـــه

وایـــم چـــې مـــې یـــار پـــهٔ زولنـــو د زلفـــو وتړي
دا د لېونـــو غونـــدې کارونـــه خوښـــوم ځکـــه

چرتـه کـه غـوټۍ د یـار د زړهٔ پـرې نوشګفتـه شـي
هـــر صبـــا لـــهٔ سترګـــو بارانونـــه خوښـــوم ځکـــه

عُود غـوندې د هجـر پـهٔ انګـار کښـې لُولپـه شومـه
عُـود غونـدې لـهٔ خـولې نـه فریادونـه خوښـوم ځکـه

ستـا اُه و بکـا اے "منتظـره" پـهٔ مـا ښـه لګـي
دا دربانـــدې دومـــره ډېـــر ظلمونـــه خوښـــوم ځکـــه

❊

پـــټ پـــۀ پټـــه لـــۀ رقيـــب ســـره چـــې لاړې
شمېـــر دې نـــۀ کړمـــه د خـــولې تـــوکلې ليـــاړې

نـــور کـــه هـــر څـــۀ لـــۀ اغيـــاره درحـــاصل شـــي
امېلونـــه بـــه د اوښکـــو لـــۀ چـــا غـــواړې

اٰ خـــو زۀ وم چـــې مـــې ستـــا نـــاز و ادا وړل
ښکلـے مـخ بـه پـۀ لستوڼـي لـۀ چـا نغـاړې

پـــردے ځـــان! اخـــر پـــردے وي نـــۀ خپلېږي
پـۀ جرګـو، پـۀ مرکـو ، پـۀ جـوړې جـاړې

غرضـــي بنـــده د نيمـــې لارې يـــار وي
امېدونـــــه د سرې کړې ســـوي تـــــراړې

هغـه تـراړه، هغـه خـوان دې نصيـب مـه شـه
چـــې سبـــا دې راوتلـــے وي تـــر غـــاړې

ګُـل پـۀ کـور کلـي پـوره دے "منتظـره"
عبـث څـۀ لـه پـۀ سـرو اوښکـو پسـې ژاړې

❋

ستـــن د څــهٔ ارزو مـــې پـــهٔ زړهٔ لکـــه ده
ځکــه لــهٔ زبېرګــو نــه مــې خــولهٔ ډکــه ده

نـهٔ يـم بــې پښتــو خــو بــې وَســي مــې ده
ګرانـــه ده ملګـــرو قيصـــه کلکـــه ده

روږدے دے رابانـــدې د الفـــت پيـــرے
تـــل مـــې ځـــورَوي دنيـــا راڅکـــه ده

لاس مــې نــهٔ وررســي کنــه دا نــهٔ چــې
مـــا لـــهٔ يـــاراني د ښکليـــو زکـــه ده

څـوك کړمــه رازدان چاتــه زړهٔ تــش کړمــه
لار راڅخـــه خدائيګـــو بـــې درکـــه ده

ښـهٔ سوچـه پښتـون يـم خـو بـې شتـو يمـه
ځکـــه مـــې خبـــره بـــې تولکـــه ده

سـر پښـې د چـا نـهٔ ګـوري صفـت يـې کړي
دا د زمــــــانې ځنډنــــــه بکــــــه ده

خداے زده چې بيا کوم خيال پهٔ مـخ وړے دے
خـــولهٔ چـــې "منتظـــر" نيـــولې وَکـــه ده

❋❋❋

❊

د محفـل بـاغ بـه سمسـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو
د يارانـو بـه پـرې شـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو

د محفـل يـاران بـه واړه سـره نـاست وي
پهٔ حجره کښې بـه يـې شـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو
بـل وطـن کښـې بـه يـو زهٔ مسافـر اوسـم
خلق بـه واړه پـهٔ خپـل کـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو
د ځـوانۍ پـهٔ ګلستـان بـه يـې بهـار وي
د يـار حسـن بـه پـهٔ زور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو
يـار بـه ښـهٔ زېـب و زينـت وي سـره کړے
د ښائيست پـهٔ اَس بـه سـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو
انقلاب بـه پـهٔ وګړي وي راغلـے
د وطـن حـالات بـه نـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو

څـوك بـه څـهٔ د "منتظـر" يارانـه ستايـي
د چـا زړهٔ بـه تربـنـه تـور وي مـونږ بـه نـهٔ يُـو

❊

څــو بــه ستــا د کبــر و نــاز خبـــرې وړم وړم
څو بـه ستـا د بنهـو غشـي پـهٔ زړهٔ خـورم خـورم

کلـه کلـه خـو زمـــا پـــهٔ رضـــا هـــم ځـــه
اشنـا څـو بـه ستـــا د زړهٔ پـــهٔ رضــا ځــم ځــم

دا خـو مـرچ دي چې پـــهٔ زړهٔ مـــې بردې دلبـــره
هســـې وايـــې چـــې مـــرهم دربانـــدې بردم بردم

دهجـــران پـــهٔ اور دې ســـوزم چـــې جـــدا وم
پـهٔ وصـال کښـې دې تـاب نـهٔ لرمـه مـرم مـرم

ډکـه خـولهٔ چـې پـهٔ خنـدا راغلـې ډاډه شـوم
ګنهـه زړهٔ کښـې نااميـد وم درنـــه تلـــم تلـــم

کلـــه وي چـــې پـــهٔ نظـــر کښـــې د يـــار راشـــم
"منتظـر" بـه ورتـه نـاست پـــهٔ لار کښـــې وم وم

❊

مېخوارانـــو لـــه شـــراب دي د يـــار شـــونډې
پـهٔ خونـد زيـاتې لـهٔ كبـاب دي د يـار شـونډې

د سوونـــــــو كالــــــــو وړي پـــــــرې مړېږي
پـــهٔ لـــذت شامـــي كبـــاب دي د يـار شـــونډې

شـور فغـان پـرې بلبـل ځكـه هـر سبـا كړي
پـهٔ چمـن كښـې سـرهٔ ګلاب دي د يـار شـونډې

كـه ملا پكښـې څـهٔ كـوز پـاس وايـي خبـر دے
عاشقانـــو لـــه محـــراب دي د يـــار شـــونډې

ګمــــان مــــه كړه چــــې بــــه زر مطالعــــه وكړم
مشتملـــي پـــهٔ ابـــواب دي د يـــار شـــونډې

د هجـران پـهٔ تـوره شپـه كښـې يـې زړے كـه
"منتظـر" سـره شهـــاب دي د يـــار شـــونډے

❊❊❊

❊

ګرانــه ډېــره ګرانــه د ایمــان سلامتــي شولــه
نوردي هر څۀ ډېر د سړيتوب بـده نېستـي شولـه

خودبه پۀ مخ توراو پۀ خرۀ سپوردخلق خندابه وم
جوړه چې زما د غېر غمـاز سـره دوستـي شولـه

لمونځ روژه خو پرېږده کلیمه رانه هېـرېږي، ځـي
څومره سربالا ومـه دا نـن څومـره پستـي شولـه

حســن او شبــاب شتــه د نظـر زاويــه بدلــه ده
توراو سپین کژل نۀ شي د مینـې کیسَتـي شولـه

ځان ځان تـه لګیـا دي د یووالـي فکـر نـۀ کـوي
ګړده د پښتــون ټولنــه لاړه درخواستــي شولــه

زړۀ مې لا لغړه خولۀ دے څۀ که ږیره سپینه ده
وخت اوحالات داسې دي چې کمه مومستي شوله

دوه سترګې څلورشوې باڼۀ ښکته شونډې وچې شوې
لویه حادثه پېښه د کلي پۀ لښتي شوله

تاچې ډك محفل کښې پۀ ماغړ وکړوچې خپل مې يې
اوس د "منتظر" زندګي ډېره قیمتي شوله

****

❊

مـا چې پـۀ سترګو د اشنـا د بېلتـون غـم ولیـدو
زړګے مـې ډك لکـه نـرګس سترګې پـۀ نـم ولیـدو

دېـر ډېـر غمونـه مـې دلبـره پـۀ دنیـا لیدلـي
ولې هـر یـو مـې لـۀ هجرانـه ځنـې کـم ولیـدو

سترګې مې ډکې شوې لۀ اوښکو د غېـرت ملګـرو
چې مې پۀ څنګ کښې د رقیـب روان صنـم ولیـدو

ناصحـه روغ یـې پـۀ زړګـي ځکـه پندونـه وایـې
هلـه بـه پـوهـ شـې کـه دې کلـه د یـار غـم ولیـدو

واعظه خدائیګو کـه وعظونـه درنـه پـاتې نـۀ شـول
کــه پــۀ زړګــي دې د ملالــو سترګــو دم ولیــدو

چې بـه یـې تـاج د کبـریت مـدام پـۀ سـر ځلېـدو
اٰ مې سرتور د عشق دربار کښې پـۀ ملا خـم ولیـدو

بېت الحـرام تـه "منتظره" ځـې پۀ کومـو سترګـو
مــا دې د شــر لــۀ احسنــام ډك زړۀ حـرم ولیــدو

❊❊❊

٭

اشنـا هسـې جفاخويـه پـهٔ چـا بـل يـې
کـه يـوازې زمـا خـوښ پـهٔ کړول يـې

حېرانېږم ستـا وَ خـوے او خپـل قسمـت تـه
مـا کنځـې او لـهٔ رقيبـه خنـدان تـل يـې

لکـه سيـورے هسـې جُخـت ځـې لـهٔ رقيبـه
د نظـر هسـې پـهٔ تېښتـه لـهٔ مـا تـل يـې

د سيمـا پـهٔ ځېـر زهٔ هـر سبـا ژړېږم
تـهٔ تـازه زمـا پـهٔ اوښکـو لکـه ګـل يـې

تـش ګـوګل لکـه ربـاب ګـڼ پـهٔ فريـاد يـم
تـهٔ خاموشـه راتـه نـاست لکـه محفـل يـې

ستـا د سترګـو تـش ځمبـل مـا لـره بـس دي
اشنـا څـهٔ لـره چـاړې پـهٔ تېـرَول يـې

چې ليـدو دې غـم پـهٔ سترګـو خيـال دې نـهٔ کـهٔ
"منتظـره" خفګـان مـه کـوه ګـرم خپـل يـې

٭٭٭٭٭٭٭٭٭

❊

بـورا ګانـــو ګلشـــن اوخـــوړ اوس بلبـــل خـــوري
مخنیـوے یـې چې ونـۀ شـي وطـن ګُـل خـوري

د ضمیـــر خاونـــدان ځـــان پـــورې حېـــران دي
هغه مست دي څوك چې ببهې د مغـل خـوري

ګلان ښایـــي چـــې ګلمخیـــو تـــه ډالـــۍ شـــي
تۀ یې مېښې ته چې وړې هغـه خـو ګـل خـوري

دا ورانکــار څــوك دي د پــورې غــاړې خلقــو!
چې زمونږ تر منـځ د مینـې عظیـم پـل خـوري

بـــې وســـي او بېکســـي لویـــه بلا وي
دا مــابېن کنبــې د یارانــو تسلســل خــوري

پـۀ تـور سپیـن پـۀ سرکـوزۍ ګټـې روا شـوې
ځنــې ځنــې پکنبــې ګټــې د چــارګل خــوري

خـود غـرض وي بـې ویسـې لېـونے سپے وي
"منتظـره" نـور خـو پـربېږده اول خپـل خـوري

❊

پـهٔ نظـر شولـو مسکـن د پښتـو سـوزي
مینـه سـوزي، مَینـا سـوزي، مَینـو سـوزي

د ګـوګړو تـور لوګـي او بدبـویۍ کښـې
د ګلونـو خوشبویـي بـه تـر څـو سـوزي

غېر خو غېر دي خپل مې هم ورسره ملـهٔ دي
قـام او کـور مـې د وحشـت پـهٔ لمبـو سـوزي

مجاهد شه شېخـه ! تـورې تـه لاس اوږد کړه
بـس کړه ګـوتې دې پـهٔ ډېـرو تسپـو سـوزي

تورخو تور دي غواړي ما د ځان پهٔ رنګ کړي
دوے مـدام زمـا پـهٔ سپینـو جامـو سـوزي

سوز و ساز د محبت پرې غلبه شي
ققنس خپل ګوره په خپلو نغمو سوزي

زهٔ وَ خرهٔ ته خېراللّه وئيلے نهٔ شم
شامتيان زما لهٔ دغو قيصو سوزي

"منتظره" يوه ښه پخه پکار ده
څو زبان به دې په بيا بيا توبو سوزي

*****

❊

خلق ځهٔ پوښتي لهٔ مانه د هجران شپه
ځوك دې وپوښتي ملا نه د نیران شپه

پهٔ وصلت د یار تازه د سپرلي ګل شم
پهٔ فراق کښې یې پهٔ ما وي د خزان شپه

جن و اِنس او ملائك مې رقیبان شي
کومه شپه چې راسره وي د جانان شپه

تهٔ چې ما بیایې ملګریه و ګلشن ته
بې دلبره هم ځهٔ ښهٔ وي د بوستان شپه

لهٔ خپل ګل سره پهٔ سرو ازغو کښې خوښ یم
بې لهٔ یار مې خوښه نهٔ ده د جِنان شپه

د راتلو وعده دې کړې وه رانغلې
وعده خوره کړه دې هېره د زبان شپه

چې دې درد دے وربخښلے "منتظر" دے
اشنا کله به نېټه کړې د زبان شپه

❊❊❊❊❊❊❊

❊

که سېزم دعشق اورکښې زړهٔ مې خپل دے ځان مې خپل دے
دبل چاراسره څهٔ دي سُود مې خپل دے زيان مې خپل دے

که راپېښه رسوايي شي د عشق کار کښې باك يې نهٔ شته
هيڅ زهيروربانديې نهٔ يم شان مې خپل دے اٰن مې خپل دے

زهٔ بلبل يم زما مينه ازلي ده لهٔ ګلانو
ترې مې مه شړه باغوانه ګل مې خپل بوستان مې خپل دے

بُتخانه ده که کعبه ده خداے پهٔ هر ځاے کښې موجود دے
صرف د اسم تبديلي ده رب مې خپل يزدان مې خپل دے

د رضا پهٔ لاره يون دے نوره څهٔ ته اوزګار نهٔ يم
"منتظره بېتنيه! اين مې خپل دے اٰن مې خپل دے

❊❊❊

❊

د منصور غوندې ځان ځوړنـد پـۀ دار غـواړم
پـۀ بـدل کښـې يـې وصـال د دلـدار غـواړم

درست عالم که مينـه اور ګـڼـي تـرې تښتـي
زۀ پۀ خواست لـۀ خدايـه دغـه انګـار غـواړم

تاب يې هر څو که زۀ نۀ وينم پۀ ځـان کښـې
خـو مـدام لـۀ يـار جلـوه شعلـه بـار غـواړم

د کنجـوس قـارون دولـت مـې پکـار نـۀ دے
ځان عثمان رض غوندې غني او مالدار غـواړم

خضره۴ ستا حاجت مې نۀ شته خپل تکړه يم
د همـت پـۀ نيلـي سـور يمـه لار غـواړم

برق د مينـې چـې پـرې هـره ورځ غـورځېږي
زړۀ پـۀ مثـل د يـو داسـې خـروار غـواړم

❊❊❊❊❊

❊

شکایت به کوم ولې لـهٔ یـارۍ د خپـل حبیبـه
دے دنیـا کښـې خلـق کلـه یارانـه کړي لـهٔ غریبـه

نهٔ قاصد نهٔ مې اشنا ګرم، زما نه او نـهٔ رقیـب ګـرم
چې هر څهٔ ماته راپېښ دي هرڅهٔ شمېرم لـهٔ نصیبـه

لهٔ نظر مې که پنـاه یـې پـهٔ ملکونـو لـرې اوسـې
تل پهٔ خیال کښې مې دلبره لـهٔ مرګوټـې یـې قریبـه

نن پهٔ ډکه خولهٔ جانان مې راته اووېل یـاري نـهٔ کړم
منصوبې دې شوې کامیابې، مبارك دې شـه رقیبـه

د وصـال لـهٔ لذتونـو د فـراق کریابـې ښـه ده
ورشه هـاړ کښـې د ګـل قـدر وپوښتـه لـهٔ عندلیبـه

تن مې ټول پولۍ پولۍ دے دهجران پهٔ اوریم سـوے
روغېـدل زمـا مشکـل دي خواري مـه کـوه طبیبـه

هغه یار چې"منتظر" یې ارزومند وو تـش دیـدن تـه
نن یې ناست ورسره وینم یو محفل کښې واه نصیبـه

❊ ❊ ❊ ❊ ❊ ❊

❊

هله ځوانی! چې تر هغې درڅخه زوړ نهٔ شمه
څو چې د قام د ازادۍ لهٔ پېغلې جوړ نهٔ شمه

خو ګوره بيا مې زړبوډۍ ته چې زر اونهٔ بخښې
د ډېرو شپو ورته بځن يم زر به موړ نهٔ شمه

د پښتون کور مې څو چې جوړ نهٔ وي ليدلے خدايه
تر هغو زهٔ درنه د مرګ کټوۍ کښې بوړ نهٔ شمه

غاصب دې راکړي پهٔ صلاح د حقوق پېغله زما
کنه پښتون يم که شوم ګرم بيا به سوړ نهٔ شمه

خلق دې ما لکه خوږه مړۍ ښوے نهٔ تېروي
پهٔ خداے قسم که يې پهٔ نس کښې ورته لموړ نهٔ شمه

غليم به پڅه کړي مېچن د فرېب هسې پهٔ ما
پښتون د اوسپنې دانه يم پرې به ووړ نهٔ شمه

که هغه وي چې يې بابا پښتون ته غواړي نو خېر
کنه پهٔ بل څيز به بېخي "منتظر" جوړ نهٔ شمه

❊

چـې ډېـر پـربېردي د يـوۀ ښکلـي پـۀ ديـن شـي
محبـــت کښـــې د وړو مچـــو ګبيـــن شـــي

خلق وَ خاورو تـه چې پرېـوزي پکښـې خـړ شي
ځنـې داسـې وي چـې لا پکښـې حسيـن شـي

د اُلفــت خوښــي د هغــو پــۀ نصيــب شــوه
د يار ياد يې چې د زړۀ کور کښـې مکيـن شـي

تـۀ محفـل کښـې لکـه ګـل لـۀ خنـدا شيـن وے
خبـر کـه زړۀ د تنـګ نظر لـۀ غمـه شيـن شـي

عشـق د ورکـړۀ نـوم دے ورکـړۀ پـۀ نصيـب وي
بايـد هـر عـاشق خبـر لـۀ دغ آئيـن شـي

د ګلشــن حُســن پـۀ خـړ دريـاب لاهـو کړي
چـې ماليـار سړے ملګـرے د ګلچيـن شـي

چـې حُـرمت د محبـت پکښـې عنقـا وي
"منتظـــره!" ورك دې داســـې ســـرزمين شـــي

❊

وایي دې خبر دے چې لیلیٰ رقیب تــه ورسېــده
وخت ته به ګورو چې د چا نصیب تــه ورسېــده

لکه مسیح۴ یهودي ذهن تــه سـرټیټے نــهٔ یــم
څهٔ که د ژوند قیصه زمــا صلیــب تــه ورسېــده

وېش ګریه! ډېره شکریه ګل دې پهٔ ګل پورې کړو
د ازغـــو برخـــه بېنـــوا غـــریب تـــه ورسېـــده

د وصــل شپــه وه د ګیلـو افسانــه تلــه اوږدېــده
ایلــه بیلــه چــرې صبــا تــرتیب تــه ورسېـــده

پېغلې ارزو مې لهٔ زېږي ماحول زېږے واخیستـو
ښـه بـه شـي کلـه کـه دانـا طبیـب تـه ورسېـده

د باطل زویه ! "منتظر" ته به سر ټیټ کړې کلــه
کــه مقدمــه زمــا او ستــا حبیــب تــه ورسېــده

❊❊❊❊

❊

پۀ خولۀ مو ډېر څۀ اووېل، بس نور عمـل پکـار دے
د نمـرود سـرو لمبـو تـه، زړګيـه ځغـل پکـار دے

د سرو ازغو پۀ زمکه ، لوګـي لوګـي ماحـول کښـې
د ژونـد بقـا دپـاره ، يـو ښکلے مـل پکـار دے

د شهـزادګۍ عاشقـه ! ځـان د سيالانـو سيـال کړه
جـونګړه وسـوزوه ، يـو سپيـن محـل پکـار دے

پـۀ پـاس ختـو کوزېـدو ، لېلـۍ دېـوال وګـراړۀ
چې يې ديدن سَوکه شي ، څۀ داسې چل پکـار دے

لار د محبـوب کلـي تـه پخپلـه نـۀ مونـدېږي
د چا کـامل ملګـري ، پـۀ پلونـو پـل پکـار دے

جانان مې ښـۀ پـرې لګـي ، رقيـب تـه بـد نـۀ وايـم
خـو وروستنـۍ پښـې تـه يـې ، د پړي وَل پکـار دے

چې پاکې پښې د اشنـا ، پـۀ "منتظـر" بوسـه کړي
که سازوي سازپکار دے، که غـل وي غـل پکـاردے

❊

وربېښمين اوږدهٔ زلفان يې اَوړي مـخ تـه کلـه شـا تـه
سينـه بانــدې ټوپــي شــي کلــه وغــزېږي ملا تــه

دوه زړونه چې د مينـې اظهـار وکړي دوه يـې واوري
بـس دا اقـرار کافـي دے، حـاجت نـهٔ لـري ملا تــه

پخپلـه خپلـې درې ګـوتې يـې ځـان تـه ورکږې شـي
د تـــور ګوتـــه نـــاصح چـــې کلـــه ونيســـي وَ ماتـــه

د نـن پــهٔ زمکــه ښــهٔ تُخـم کــرم د تېـرو ورځــو
قـانع پـهٔ خپـل حـالت يـم خفـه نـهٔ يمـه سبـا تــه

ګل پاڼې پاڼې پروت دے بلبل ناست دے ورتـه ژاړي
پهٔ دوے کښې بـه خوشحـال او غمـزده وائُـو وَ چاتــه

د صبـر تصـور پــهٔ وجــودي مينــه کښــې کــم وي
دا ځکـــه يـــاران کـــم ګـــوري روا او نـــاروا تـــه

پهٔ سپينوجامو تور د سپينو ګوتو يـې څـهٔ کـم دے؟
لا نوريې "منتظر" چې يم دسپينـې خـولې خنـدا تـه

❊❊❊❊

❊

څوچې روح مې دتن کور نه عزرائيل نۀ کړي بهر خپل
ستا د عشق لۀ استانې به اوچت نۀ کړمه زۀ سر خپل

ياره ستا لۀ زيبا مخ مې که مخ ستون کۀ وَ بل مخ ته
زلميتوب کښې دې بوډاشم ټپ دې کښېنم پۀ بصر خپل

خودکشي خو اسان کار دے ، ګرانه دا ده اے فرهاده
چې وارونو ته د هجر څوك ژوندون کاندي سِپر خپل

کهکشان او مه ناڅاپه باراني شپه کښې ښکاره شي
چې مې يارپۀ دوه حصوکښې لاندۀ زلف کړي برابرخپل

لۀ نرګس مې د چشمانو څکه پرخه ښکته توے شوه
د خيالاتو پۀ اُفق مې يار راهسك کړو د مخ نمر خپل

اے د مينې پۀ ځنګل کښې پۀ اسرې د خضر۴ ناسته!
خپل تکړه شه دې ځنګل کښې شش و پنج کښې دے خضـر خپـل

ياره تۀ يې دستګيري کړې خرمستي خو ځکـه کانـدي
کنه خدائيګو کـه رقيـب بـه وي دا هومـره زړوَر خپـل

"منتظـره بېتنيـه"! تـر هغـو بـه سرے نـۀ شـې
څودعشق پۀ صحيفه کښې دې يارنۀ کړې منتظَر خپل

❊❊❊❊

❊

نېست چې ومه خېرووخولۀ کومې ورځ چې هست يمه
غم لۀ ما سره او زۀ لۀ غم سره پېوست يمه

خداے زده مخامخ به يار ته څرنګ ټينګومه زړۀ
لا چې د ښائيست پۀ صفتو يې دومره مست يمه

مئے مې پېژندل هم نۀ چې څرنګ رنګ او خوند لري
دا د چا د سترګو لۀ کبله مئے پرست يمه

تۀ که پۀ خرۀ سور يې خانه ښۀ يې چې دولت لرې
پوچ زما هر قول و فعل دي ځکه چې تنګ دست يمه

ولې به پۀ مرسته د رقيب "منتظر" نۀ رټې
اُ چې لږ بالا دے شخصيت کښې او زۀ پست يمه

مست زۀ "منتظر" د ورکړو راکړو پۀ نشه نۀ يم
بس لۀ ابتدا نه پۀ پوښتنې د "الست" يمه

❊❊❊❊

❊

کـور و کلـي ستـا محلـت تـه یـم راغلـے
آدم زاد یـم بیـا جنـت تـه یـم راغلـے

لـهٔ ګُمـراه او کبـرجن سمـاج پـهٔ تېښتـه
ستـا دربـار د محبـت تـه یـم راغلـے

د ښکلا د مملکـت پیرانـو پیـره !
لاس مـې ونیسـه بیعـت تـه یـم راغلـے

زهٔ د مینـې پـت پـاللے شـم پښتـون یـم
ایلـه ستـا لـهٔ خولې یې سـت تـه یـم راغلـے

هـر یـو ګـل چېـي کـوم د شـات مچـۍ یـم
ستـا د ګـل شـونډو خـوږلت تـه یـم راغلـے

چـې راکړے دې وو بیـا دې رانـه واخیسـت
پـهٔ ټیـټ سـر هغـې عظمـت تـه یـم راغلـے

د بـاطل وَ "مرهټـه" تـه حـق ورښایـم
"ابدالـي" یـم پانـي پـت تـه یـم راغلـے

❊

مَينه ! شپې لاندې کړې څه لېلیٰ لیدله نهٔ شي
پهٔ کور پوره خلق ته خواري د چا لیدله نهٔ شي

ماته د اوښکو بهېدلو حق هم نهٔ راکوي
هغوے ته خپله شوقیه جفا لیدله نهٔ شي

ګرم به یې نهٔ کړم که حق نهٔ پېژني نهٔ یې وینې
د خوځې سترګو ته د نمر رڼا لیدله نهٔ شي

زما د مینې مجبوري ده اعتبار به کوم
کنه وعدو کښې دې اشنا وفا لیدله نهٔ شي

لونګ لونګ فضاثبوت ده جانان دلته دے خو
د سر پهٔ سترګو د سپرلي هوا لیدله نهٔ شي

رنګین غزل ځواني یې نوره لهٔ تنقید بالا ده
لږ یې پهٔ شونډو د یارئ مُسکا لیدله نهٔ شي

محتسب هسې "منتظره" خپل نمبر جوړوي
ماته دیدن د ګلبدن خطا لیدله نهٔ شي

❊❊❊❊

❊

حق دپاره چې د حق اظهار ته رسي
څوك په زهرو مري او څوك وَ دار ته رسي

ډېر تروهٔ ترخهٔ حالات پرې مېلمه کېږي
چې سړے د سړيتوب معيار ته رسي

مينه اور دے هم بېلتون کښې سوزول کړي
هم وصال کښې مَين سور انګار ته رسي

د ګلاب ګلاب شباب عمر دې ډېر شه
چې دا ګوري نور به څوك ګلزار ته رسي

عشق کښې پښې ږيره نيوله د قاصد شي
خو څوك داسې وي چې نېغ نګار ته رسي

خپله ژبه زما خپلو رانه پرې کړه
اوس به څوك زما ګونګي ګفتار ته رسي

خوشبويي ليدله نهٔ شي محسوسېږي
"منتظر" هم پټ ښکاره دلدار ته رسي

❊

ځم کښه مې بار ده وَ بل لور ته مهاجرت کوم
دا د سرېتوب لۀ منکرانو بغاوت کوم

خبردے توروېښتۀ که زماسپين شول محبت کښې يې
هغه دې يې نۀ مني خو زۀ به محبت کوم

دغې ملنګۍ کښې به د خت و خوراك څۀ وايم
سيال سره سيالي کولے نۀ شم بس عادت کوم

تا پورې مې خپله خولۀ شوه پـاستے بـارې نـۀ راځـې
څومره غټ پښتون يم ستا غمونو تـه هـم ست کـوم

نــور دې کاريګــر ګڼــم رقيبــه خــو مــــزې کـــوه
يار ته مې يار وايې بـس پـۀ دې بـه دې عـزت کـوم

اے تۀ د همه ښکليو محبوبه همسايه دې يم
مخ دې راښکاره کړه هېرمې نۀ کړې چې رحلت کوم

دۀ خو پښتو پرېښوه "منتظره" لاړ هندکے شولو
اوس به زۀ پالنه د پښتو او د خپل پت کوم

❊

زۀ لـۀ اٰغـاز نـۀ يـم خبـر، نـۀ لـۀ انجـام خبـر يـم
لـۀ نـورو نـوو او زړو څخـه تمـام خبـر يـم

د منزل حُسن د مزل ستړې لۀ ما هېروي
کنه د عشق د کړو لارو لۀ هر ګام خبر يم

دهجرشپې به کړي صبا، دوخت وربوزبه کوړ کړي
زۀ لۀ همت او محبت نه د خپل قام خبر يم

ستا معرفت د نن پرون خبره نۀ ده اشنا!
زۀ لا د مور غېږه کښې وم چې ستا لۀ نام خبر يم

ډېر زورَور يم منع کړے ساقي نن يې نۀ څښم
کنه دستور د مېکدې او هم لۀ جام خبر يم

د تاسو خپله خوښه خپل خو يې امام نۀ منم
د ستر لستوڼي صوفي ګل لۀ صبح و شام خبر يم

دګلوَرين پۀ څنګ کښې ناست يم سرمې ټيټ نيولے
"منتظر" قدر نه د ګل او د ګلفام خبر يم

❊❊❊❊

❊

که یار نهٔ شته نو یادونه خو یې شته
تصور کښې مې عکسونه خو یې شته

که نصیب مې یې د شونډو خوارهٔ نهٔ دي
ډېر ترخهٔ ترخهٔ غمونه خو یې شته

سترګو ! دا هم غنیمت دے ورته ګورئ
لا څهٔ تت غوندې منظرونه خو یې شته

که منزل ته لهٔ کاروان ملګرے نهٔ شوم
وخت شته، تلے شم که ځم، پلونه خو یې شته

که څو پراخه د رقیب د زور دنیا ده
زړهٔ پښتون شه څهٔ حدونه خو یې شته

خبر دے نن یې که پهٔ سر اسمان ولاړ دے
ولې ګوره ګردشونه خو یې شته

نن پرون د "منتظر" که خوار دي خبر دے
د سبا ورځ امېدونه خو یې شته

❊❊❊

❊

ماته مخ پهٔ مخ راځه بلا دې واخلم
حال احوال نه مې پوښته بلا دې واخلم

تهٔ مې روح يې زما تن پهٔ تا ژوندے دے
ما نه مخ مه اړوه بلا دې واخلم

تهٔ يې ښهٔ پېژنې ، زهٔ هم درته خواست کړم
د غماز خولهٔ مه منه بلا دې واخلم

تهٔ يې مه کوه پهٔ منډ کښې، چې يې وکړې
بيا وعده پوره کوه بلا دې واخلم

زهٔ نيمګړے يم، زاري درته کومه
ما نيمګړے مه پرېږده بلا دې واخلم

خوار شمکور يم رَو ګودر رانه خطا دے
ما تر ګوتې ګرځوه بلا دې واخلم

ګلورينه ! وېش کوه مېړونه کسه
"منتظر" مه هېروه بلا دې واخلم

❊

تر بڼو لاندې چې غلي غلي خاندې
بيادې کړې د حُسن و کېف چشمې بهاندې

ژرنده ستا د قنج مکېز دې مدام ګرځي
د غرور دانې زما به پکښې رغاندې

ستادعشق تهمت مې پنډه پۀ سرخوښ دے
ګل هيڅکله نۀ درنېږي شبنم باندې

اے سبزه به يې د مخ وَده کړي څنګه
چې تل اوسي يې د زلفو سيوري لاندې

زما څۀ هستي اعجاز دے ستا د حسن
چې ساتي مې زړۀ کښې ماندرې دعشق تاندې

"منتظر" ورته بيا خير خير دي کتلي
د ليلىٰ مورې! لوګے کړه ورته سپاندې

❊

سیال مې نۀ ګڼې پوهېږم ځکه پیښې رانه نغاړې
خو دبخت نیازمنې پېغلې ! یو وار راشه پۀ ولاړې

د نس غم راسره نۀ شته خدایه تۀ ښۀ راخبر یې
کم سیالۍ نه مې زړۀ چوي، کړه پناه یې رانه داړې

د زړۀ مسته! خپله لار وړه، هسې نۀ رانه خفه شې
زما زړۀ نه وینې څاڅي ، تۀ خبرې رانه غواړې

طالبان د عېش دې درومي، د چا نورو وَ دنیا ته
زۀ چې کوم جهان کښې اوسم، هلته دي ورانې ویجاړې

خلق دبل لۀ لیاړوکره کړي، ځان ترې ژغوري مخ بل خواکړي
خو زۀ وایم زما خولۀ وے او د یار دخولې وے لیاړې

"همېش" ګل غوندې خندان وې "منتظره" څۀ خبر وم
چې تۀ هم د چا لۀ جور، لۀ جفا نه پټ پټ ژاړې

❊❊❊❊

❊

بيا اول غوندے راواخله قدمونه
پۀ زړو منهو دې پرېوتل ګردونه

مودې تېرې دي خو هېرې مانه نۀ دي
راشه کنبېنو سره زباد کړو تېر وختونه

ستا د ښۀ ساعت ياران دي سپرلي ګله !
که بلبل دے ، که بورا دے که ګلونه

د حسينو نازنينو محبت کنبې
پۀ دروغو ډېر خواړۀ شي قسمونه

سر مې پرې کړه خو چې ژبه مې پرې نۀ کړې
بې لۀ ژبې ګونګي کېږي تومنونه

بې نيازۍ دې زړۀ راشين او وينبتۀ سپين کړۀ
عفوه غواړم که مې نۀ ورانوې خونه

"منتظره" ! د سفر تياري بويه
پۀ ګلان کوڅ کنبې دې تېر کړل ډېر وختونه

❊

بې یقینو نه بهتر دے خپل ګمان مې
پوره کېږي به که خداے کول ارمان مې

څۀ سپېرو سره مې سر دے پۀ وطن کښې
ورانوي راته جوړ شوے ګلستان مې

ډېروښکلیو سره کښېنم ، لاړ شي هېر شي
خو یو هغه دے چې لیك دے پۀ زبان مې

استقبال ته یې ولاړ یم یار ناوخت کړ
مړاوي کېږي پۀ لاسونو کښې ګلان مې

چې مړوند د استعمار لۀ بېخه پرې کړم
باچاخان غوندې نصیب دې شي زندان مې

پښتون سر مې نۀ ټیټېږي که یې ټیټ کړم
وازه غېږ راته نیولې ده جانان مې

د جمهورضمير دخپر پۀ غونډۍ ناست دے
ظلم کېږي که پۀ لر و بر افغان مې

بې قدري ، بې حرمتي د مينې وينم
"منتظره" !خوند به څۀ وي د ګزران مې

❊❊❊

❊

وَ اسمان ته هسې کاږي پهٔ ويشتل يم
حقيقت کښې نهٔ د ځان يم نهٔ د بل يم

پښتني هوډ ورکوم مهران رانيسم
د "بهرام" غوندې ملګرے د مغل يم

د ګلونو کروندې ته مې شا کړې
د خلق لارو کښې د غنو پهٔ ځمبل يم

د لذت پهٔ څَو کښې ګرځمه بورا يم
قدردان نهٔ د پيکي نهٔ د وربل يم

محبت کښې مقلد زهٔ د ډيوې يم
پېروکار نهٔ د پتنګ نهٔ د بلبل يم

ماته خاندې که پهٔ ما خاندې پوهـ نهٔ يم
زهٔ د ښکليو پهٔ خندا تېروتے تل يم

چې مو څهٔ څهٔ دي کرلي "منتظره" !
نور څهٔ نهٔ شته بس د هغو پهٔ رېبل يم

✻

تته اٰئينه کښې د زړګي مې ښکلا ښه ښکاري
ځکه خو ماته فېروزه هم شنه مشکښه ښکاري

زۀ د خپل شعردسوزوساز نه ښۀ خبر يم ، خبر دے
که ناپوهانو ته بې وزنه غوندې دښه ښکاري

خزان خزان ماحول زما د خوشحالۍ دشمن دے
تنکي سپرلي کښې دګل مخي خولۀ ممښه ښکاري

د فقير اېپي بې اغزيو بېره نۀ ده اشنا !
خولۀ مې درځار شه خو لېلیٰ خړه کرکښه ښکاري

ډېرپۀ چل ول اوبدلي جال کښې خلق رانيسي، خوري يې
زما د ملك ځنې سړي هم سپېره غښه ښکاري

د پرون وړي شول ماړۀ ، ماړۀ نهر ګرځېږي
عجب تضاد دے ، لۀ غنمو بالا چښه ښکاري

د "منتظر" د فکر ناوه خړه پړه نۀ ده
لږ لۀ سنګار يې بې پروا د بخت نايښه ښکاري

❊

خفه نهٔ يم باك يې نهٔ شته كه دنوروهم غمخوار يې
ماته هم راپوره كېږي، هم مې يارهم مې دلدار يې

تهٔ د حُسن يو بهار يې ، زهٔ وړه غونډې ذره يم
زهٔ خپل ځان پورې حېران يم، تهٔ ددرست عالم پكاريې

د عصيان تودو بادونو ، سوخته كړے ګلستان يم
كله دې خوا هم نظر كړه، علامت د نوبهار يې

زهٔ سپېرهٔ خړمخے غزيم پهٔ سپرلي كښې هم ګل نهٔ شم
د بلا پهٔ زغره پټه، تهٔ هر وخت ګل و ګلزار يې

غم دې تورمشكي ښاماردے، زماساندوته ګډېږي
خوري مې خو، پټ ورته وايم چې دياريې نومې ياريې

څوك دې نوم چې وظيفه كړي سربدال نشه نشه شي
پهٔ تُرشۍ بيانهٔ كوزېږي، نوم كښې پټ عجب خمار يې

"منتظره بېټنيه"! يا مجنون يا كلك پښتون يې
دغ كچكول كچكول ماحول كښې ديوهٔ خداے منت باريې

❊❊❊❊

❊

خپلو یادونو ته دې اووایه چې نۀ رادرومي
چې بې لۀ تاوي پۀ کوم مخ راځي، پۀ څۀ رادرومي

څنګه د بل خولې ته خولۀ ونیسم شېرینه اشنا !
لاخو مې خولۀ کښې ستاد سپینې خولې خواږۀ رادرومي

اِك یوستانوم دے چې تسل مې د زړګي پرې کېږي
کنه نو هسې خو نومونه ډېر پۀ خولۀ رادرومي

که دغه کُفر وي دغ کُفر باندې فخر کوم
سم دخداے نوم سره ستا نوم زما پۀ خولۀ رادرومي

پښتنې! اوس خوراشه، روح مې پۀ سلګودے درومي
د مړي کور ته خو د سېلمې پښتانۀ رادرومي

د خداے قدرت دے د شېرینې لۀ شېرینې خولې نه
نن "منتظر" ته ځوابونه څۀ ترخۀ رادرومي

❊

که ته نۀ يې نۀ شته مشې، ستا غمونه زما ملۀ دي
د ماضي ښايسته وختونو څو يادونه زما ملۀ دي

پېغلتوب دې خپل نصيب شه، هم خوښي ستامبارك شه
زما هم پام غلطېږي، خپل اُهونه زما ملۀ دي

تۀ ښادې د ښادمانيو، دچا بل محفل کښې وايه
زما خپل مجلس تازه دے، فريادونه زما ملۀ دي

ستاپۀ مينه اوخلوص به، که شکمن يم ځان دې وخورم
بيا هم پوهـ نۀ يم چې ولې، څۀ وهمونه زما ملۀ دي

نور مې هرڅۀ هرڅۀ بوله، بې پښتو راته مه وايه
د دشمنو خلقو نور هم، الزامونه زما ملۀ دي

خپلې ختې ساتئ بوڅې، هسې نهٔ لمبه دړواخلي
لهٔ ازل نه لوګېدونکي، نصيبونه زما ملهٔ دي

ګله تاته مې زړهٔ خوږ شي، کنه خپل خو خړ ازغے يم
هسې نهٔ مېښې دې وخوري، دافکرونه زما ملهٔ دي

"منتظر"به ځان پهٔ څنګ کړم،زهٔ پهٔ زړهٔ پښه لګوے شم
خو ستا مينې سره کړي ، څو لوظونه زما ملهٔ دي

****

❋

پتنګ نهٔ يم چې مستئ نه سوزېدو باندې مَين يم
د خليل۴ غوندې پهٔ حقه سرو لمبو باندې مَين يم

زهٔ دبل معيارمَين يم، رنګ وخوندنهٔ دے خيالمنې!
ستا لهٔ حُسن و پېغلتوب نه ستاپښتوباندې مَين يم

چې بچاؤکښې ستادبشپړپېغلتوب هڅونه مات کړي
ګله! کتې متې پښتانهٔ دي ستا څولو باندې مَين يم

د بخت ډمې که څو کړې وعدې وخوړې پهٔ شا شوه
ما ساده ګورئ چې لا يې پهٔ وعدو باندې مَين يم

پهٔ سره سينه خوړنه ، سوړ ژوندون د ښځو کار دے
زهٔ مېړهٔ يم لهٔ سړو نه پهٔ تودو باندې مَين يم

زړهٔ کښې کم خوتصورکښې مې خداے شته ډېر ښکلي اوسي
يم خو يم خو وېلے نهٔ شم چې پهٔ څوباندې مَين يم

❋❋❋❋

❊

لار ده ازغنه هم سفر ګران دے
خو وي دې هر څۀ نه دلبر ګران دے

باور لرم يار به مې هم يادوي
خو بې رېباره دا خبر ګران دے

پۀ خاکسارۍ کښې مينه سرته رسي
پۀ سرکشۍ کښې يې اثر ګران دے

خولۀ به ونۀ ښکي، خولۀ خولۀ دې کوي
چې پۀ چامال ګران وي هم سرګران دے

رضا د يار پايي د عشق بحر کښې
د کلي کوړم کښې دا ګوهر ګران دے

چې نصب العېن يې مشترك وي نو بيا
امکان لري کنه لښکر ګران دے

خپل يې دربار ته "منتظره" ورشه
دلته راتګ د منتظَر ګران دے

❊

ځوك چې كړي خپل سربنده ته تات، خبره سپينه ده
غاښ يې كړئ پۀ سوك باندې ورمات، خبره سپينه ده

دا چې ګرده ګرځي در پۀ در ځان محبوبا بولي
ځوك خو به كړي ځان ورته جلات، خبره سپينه ده

زۀ د هر جابر او باطل رد افضل جهاد ګڼم
تاته وروروژنې دي غزوات، خبره سپينه ده

هر ځومې كه ورور وي خو چې يار د غاصبانو شي
نۀ مې دے پۀ ولې نۀ پۀ ذات، خبره سپينه ده

ښكلي نازولي مهرجن چې وي بيا خوند كوي
جوړ يې بې نيازي نه شي فسات، خبره سپينه ده

زۀ مسكين د مينې ، تۀ غني د ښكلا، حق لرم
راكړه لۀ خپل حُسن څۀ خېرات، خبره سپينه ده

خوار دے "منتظر" خو"شېخ بدين" غونډَيوشان لري
مرګ نه پس به هم وي پۀ حيات، خبره سپينه ده

❊❊❊❊

❊

ځۀ مې پۀ زړګي کښې جوړه شوې ګړه بړه ده
سر پښې يې خطا دي رانه ، ښه راشوې لړه ده

داچې رقيب ګوتې ګنې ځي او پۀ تيټ سر درومي
جوړه يار ورکړې پۀ خندا خندا کښې ګوړه ده

خپل ترې پۀ پړده کښې اوسئ نورو ته به ځۀ وايُو
ګورئ "مهذبه" دنيا سر تر پښو لغړه ده

خبر که پۀ کرشاندو پۀ خاپوړو که کښېني پاځي
رسي به منزل ته د سړي حوصله لوړه ده

خداے مواے سترچارو!دسترچاروپۀ لاس کښېباسه
لاس مې نۀ دررسي کنه ښۀ درَنه چېړه ده

تا چې لا تر اوسه حق غوښتل اخيستل زده نۀ کړل
اے بې نومه قامه ! ځې ورکيږې کور دې خوَړه ده

اے پۀ کور پوره اشنا ! پۀ مرګ خو يې مخ وګوره
درومي "منتظر" سړو يې بار پۀ اوږو سخړه ده

❊❊❊❊

❊

پهٔ هغه سترګو مې ګوره لکه وم چې
داسې نهٔ د زړګي سره! لکه یم چې

وایم هسې نهٔ کاروان منزل غلط کړي
پهٔ هر ګام سرهٔ مشالونه بلوم چې

اوس مې پرېږده ښهٔ لمبه شم بیاایره شم
هلته نهٔ وې ستاپهٔ غم کښې لوګېدم چې

اسمان هم شبنمي اوښکې دوړولې
ستر سحر د چا پهٔ یاد کښې ژړېدم چې

تهٔ غني یې خلق به تاته ګوته نیسي
زهٔ مسکین یم بېنوا درځخه ځم چې

دخداے شان دے نن ګلان راباندې لوني
پرون دغه وۀ پۀ کاڼو يې ويشتم چې

دازغوپۀ دشت راتېرشوم پۀ اورپېښس شوم
ګرم يم خپل ، وَپردي ډول ته ګڼېدم چې

لارکښې ډېروښکليوځان سره مېلمه کړم
"منتظر" د شاه خوبان کلي ته تلم چې

*****

❊

د اشنا دیدن به ګور ته ارمان یوسم
دغه داغ به پهٔ زړګي نمایان یوسم

چې پهٔ ژوندمې تش دیدن دیار اونهٔ کهٔ
څهٔ امېد چې پهٔ قیامت به ایمان یوسم

غېرخوغېردي خپل مې هم خبره ناوري
خدایه! راز د زړهٔ وَ چا ته عیان یوسم

د خوښۍ کور مې لمبو د هجران اوسو
کټ اوس کوم خواد غمو لهٔ باران یوسم

راته وایي دا دې هم خودنمایي ده
که لهٔ غمه یار ته څیرې ګرېوان یوسم

کله وي چې پهٔ درګاه د یار قبول شي
پېشکشي دې یار ته نن څهٔ ګلان یوسم

"منتظر" خالي دیدن د اشنا غواړم
پهٔ قسم که یې تر شونډو لبان یوسم

❊

غم د يار مې کړو سکون د زړهٔ تاراج
مسيحا يې نهٔ پوهېږي پهٔ علاج

پهٔ يوهٔ ګوزار يې مري دويم لا پرېږده
د بڼو غشو ته مه شه څوك اماج

خاکسارۍ کښې که قبول شي خولاهله
پکارنهٔ راځي پهٔ عشق کښې تخت وتاج

رازدزړهٔ وئيل پهٔ عشق کښې دسرزيان دے
ګني ورشه وپوښته منصور حلاج

چې پهٔ شړق دتوروسترګو زړهٔ دوه نيم شي
پېوند ناخلي بيا پهٔ مثل د زجاج

که اشنا د نظر باز ورباندې پرېږدي
"منتظر" به ورته زړهٔ کاندي ډُراج

❊❊❊❊❊❊

❊

دعشق په کارکښې لۀ هیچاخوف و خطر مه کوه
په خپل مقصود پسې نېغ ځه بل خوانظر مه کوه

ننګ وناموس، شرم وحیا ، مال ومتاع خو پرېږده
که په خپل سر دې هم جوړېږي ترې حذر مه کوه

ستا د پرواز مقصد دے بېل او د هغۀ جدا دے
شاهینه ! یو ځاے لۀ تپوس سره سفر مه کوه

منم خوږې پستې خبرې به کوي درسره
زړۀ کښې یې غلا وي اعتبار په سورکافرمه کوه

په غوږو دروند یم نۀ یې اورم اشنا څۀ فرمایې
راشه نژدې ، راته قیصې د بام په سر مه کوه

اوس دې په ږنګو پلونو اوښکې څڅوي "منتظر"
ما ورته نۀ وې چې یارې لۀ مسافر مه کوه

❊❊❊❊

❊

نۀ ښايي چې ستاغونډې حسين دې ګل ته پام کوي
تۀ پخپله ګل يې ګله! ګل به ستا سلام کوي

مه خانده اشنا! علم غلم خلق سره مه خانده
تۀ ګورې خپل زړۀ ته اودوئ بل دربانديې نام کوي

خدائيګوسورکنډي مېږې مې وچيچي پۀ زړۀ ورته
څوك چې بې اودسه د ګل نوم اخلي کلام کوي

جوړه يار راځي چې غولے اووهم رېبځ راکړئ
توره کاغه بيا بيا اوازونه پاس پۀ بام کوي

خوند خو ستا د مينې لېونو لۀ ژوند نه واخيستو
نۀ سجود، قعود ، نۀ خبر، نۀ چېرته قيام کوي

❊❊❊❊

❊

چې پۀ ګلو تل بهار وے څۀ به ښه وه
د بلبلو پرې چغار وے څۀ به ښه وه

که موسیٰ ۴ غوندې بېخوده پۀ ليدو وے
خو چې تل ديدن د يار وے څۀ به ښه وه

پاړوګر وے کور پۀ کورمې ګدايي کړے
د يار زلفې مې ښامار وے څۀ به ښه وه

د مېړو او د مچانو پۀ شان دوئ هم
مسلمان پۀ يوه لار وے څۀ به ښه وه

تور ښامار وے پۀ مزه وربانده پروت وے
د اشنا متې چنار وے څۀ به ښه وه

چې ديارمينې کښې مست لکه منصوروے
"منتظر" که سور پۀ دار وے څۀ به ښه وه

❊❊❊

❋

مېخوارانو له شراب دي د يار شونډې
پهٔ خوند زياتې لهٔ کباب دي د يار شونډې

د کوثر اوبهٔ پهٔ خوند کښې ورته هيڅ دي
هسې رنګ خوږهٔ شراب دي د يار شونډې

د سوونو کالو وړې پرې مړېږي
پهٔ لذت شامي کباب دي د يار شونډې

شور فغان پرې بلبل ځکه هر صبا کړي
پهٔ چمن کښې سرهٔ ګلاب دي د يار شونډې

که ملا پکښې څهٔ کوز پاس وايي خېر دے
عاشقانو له محراب دي د يار شونډې

بختورو له اوبهٔ دي د حياتو
بدقسمتو له سراب دي د يار شونډې

د هجران پهٔ توره شپه کښې رڼايي که
"منتظر" سره شهاب دي د يار شونډې

# ګیله ګۍ

یاره ښه ده چې پهٔ وخت دې خبردار کړم
د راتلونکي ژوند دپاره دې هوښیار کړم

بیا به نوم د یارانې پهٔ خولې وانخلم
جذباتي زړهٔ که هر څو پهٔ زړهٔ لاچار کړم

زما و ستا یاري هله وه سره پاتې
چې خداے تهٔ کړې دولتمند او زهٔ یې خوار کړم

ښه چې تهٔ پهٔ کور پوره شوې زما خبر دے
د یارانو کمي نهٔ شته بل به یار کړم

که پهٔ زړهٔ یې ستا یادونه غلبه شول
ښهٔ به وژاړم پرې سپک به د زړهٔ بار کړم

نورې نهٔ هغه يوه وعده کړه ياده
چې دې وېلي وو خپل ځان به لهٔ تا ځار کړم

ياد ساته خون به مې ستا د غاړې هار وي
که هجران دې ځان وژلو ته تيار کړم

ياره ستا ټګو ، برګو ، وعده خوړَيو
"منتظر" يې لهٔ کل ښکليو توبه ګار کړم

❊❊❊

❊

چې مختورے نۀ يم تور دې يم حسين يم
شينکے خال د نازولو پۀ جبين يم

احتساب که د ګلچين وو ما هم ياد کړئ
د لوټ شوي چمن زۀ هم يو مکين يم

بدفطرت راباندې تور بږدي کنه يار ته
د کفن غوندې لمانځي يمه تك سپين يم

که مچ نۀ يې رانژدې خو شه چې روغ شې
د اوؤ رنځو دارو يمه ګبين يم

بيا بيا څۀ له مې د ستنې تر سپم باسې
لۀ اول نه ستا غلام يم ستا پۀ دين يم

د تُهمت او ملامت کاڼي راوله
"منتظر" يمه بُردبار لکه زمين يم

# مُحَمَّدٌرَّسُولُ اللّٰه

حامل دے د قرآن او هم تفسیر دے د قرآن
د خداے نامزد امام دے انبیأ یې مقتدیان
خاتۀ تر پرېواتۀ او پورته ان تر لامکان
عظمت دے مسلّم د پېغمبر اخرزمانﷺ
پۀ جمع واړه وایئ کلیمه پۀ یوې ساه
لااٰله الاّاللّه محمدرسول اللّه

عرفان د محمدﷺ باندې عرفان د اللّه کېږي
بغېر لۀ دې ایمان د سړي کله ثابتېږي
خداے شته ولې رهبر یې وروَستو ته پکارېږي
وړه غوندې خبره ده که څوك پرې وپوهېږي
عېن فرض ده پېروي به یې کووصبا بېګا
لااٰله الاّاللّه محمّدرّسول اللّه

د خداے نه راپۀ روستودهمه خدايي مختار دے
لۀ موراوپلارنۀ زيات داُمتي عظيم غمخواردے
بې مثل بې مثال يې پۀ جهان علوي كردار دے
لۀ فرش نه پاس تر عرشه مكرم دے باوقار دے
دخداے همه خدايي كښې معظم دے عاليجاه
لاالٰه الاّاللّه محمّدرّسول اللّه

انسان دخپل تخليق ښكلي مقصدنه بې خبر وو
د خوارخوشې ږاندۀ غوندې پۀ ګوډو ړندو سر وو
كړۀ وړۀ يې دانسان ووخو پۀ خوئ بوئ ځناور وو
پۀ زړۀ باندې تك تور وو او پۀ عقل كوروكر وو

روان يې كړو پۀ لار د هدايت دغه ګُمراه
لاالٰه الاّاللّه محمّدرّسول اللّه

*************************

# مصلح اعظم ﷺ

لۀ خداے نه پۀ راروستود همه خدايي مختياره

دنيا وه ستا راتلو څخه اول ډېره بدحاله
هستي د ښو اخلاقو وه بنياد څخه پائماله
جفا، دغا، ګناه وه رسېدلې تر کماله
قيامت به وو خو تاته دا نيمګړې وه اټاله
همه د خداے خدايي وه ستا راتلو ته بېقراره

معمور د خداے لۀ نوره ستا صورت چې رانما شو
تيارې د کفر، شرك لۀ دنيا لاړې سپين صبا شو
الحاد لکۍ پۀ ملا کړه شو پۀ منډه وارخطا شو
رښتونے ستا پېغام چې خور چاپېره پۀ دنيا شو
بې شمېروپۀ طفيل ستاومونده دخلاصي لاره

انسان د خپل تخلیق ښکلي مقصد نه بې خبر وو
د خوار خوشې ړاندۀ غوندې پۀ ګوډو ړندو سر وو
کړۀ وړۀ یې د انسان وو خو پۀ خوئ بوئ ځناور وو
پۀ زړۀ باندې تك تور وو او پۀ عقل کوروکر وو
رهبره ! دا ګُمراه انسان دې کړو پۀ سمه لاره

لوټمارو نه دې جوړ کړل د دنیا محافظان
وحشیان دې د تهذیب او تمدن کړل استاذان
تش محفل کښې ناستې جاهلان کړل عالمان
تعلیم ته ستا حېران دي د دنیا واړه پوهان
واللّه چې دې بِنا ورانه دنیا کړه سردوباره

دخاك،خون، رنګ وذات ترمنځ دې ورك کړوامتیاز
آیاز دې لۀ محمود ، محمود دې سم کړو لۀ آیاز
معیار دې تقویٰ کېښود د منصب او د اعزاز
پېدا شو ځکه زړونو کښې د عشق سوزوګداز
عجیبه فلسفه دې د اصلاح کړله اختیاره

د فکر و تصور د زاڼو سپل ستړے ستومان شي
پهٔ سپل روان چې ستا د صفتونو د جهان شي
قلم دې د قدسي کردار صفت څخه ناتوان شي
فطرت ګوته پهٔ خولهٔ شي نندارچي چې ستادشان شي
بې مثل بې مثال شان و شوکت لرې نامداره

# دانسانیت محسنﷺ

د فساد او جهالت تر پېټي لاندې
د لیندې غونډې پۀ کړوپه ملا روان وو
نۀ یې توان وو د مزل نۀ یې منزل وو
توره شپه وه سرګردان وو خو روان وو
نۀ یې څوك غمخوار وو نۀ د چا غمخوار وو
یو د دوۀ پښو ځناور وو خو روان وو
دخداے دوسته چې تۀ راغلې حال بدل شو
د بدبخته انسان قیل و قال بدل شو

څۀ ساده اسان خدایي پېغام دې راوړو
چې انسان د انسان ورور دے عدُو نۀ دے
دانسان سرکښې خداے عقل فکر ځاے دے
تشه توره کتهوې نۀ دے ، کدُو نۀ دے
خداے واحددے لاشریك دے،لامحدود دے
اللّه هو دے ، اللّه هو دے ، لاهو نۀ دے
چې یو خداے ته یې سرټیټ کړوسربلند شو
سیادت پۀ مال و رنګ و لهو نۀ دے
د ړنګ پنګ انسانیت تعمیر دې وکړو
د تقدیر او د تدبیر تفسیر دې وکړو

تهٔ بشر يې خو عظمت دې ملائك نه
خداے سِوا دے بيان کړے پهٔ قرآن کښې
ستا ګُفته د خداے ګُفته منلے کېږي
ګاه خو فرق مشکل شي تا او پهٔ رحمٰن کښې
دعا ښه ده خو دوا بهتره بولې
چې پهٔ داسې کړو همت زېږي انسان کښې
چې باطل و حق ته اړ شي ستا فرمان دے
فېصله ښه ده چې وېې شي مېدان کښې
پهٔ مقصد دخپل تخليق دې انسان پوهـ کړ
ناخبر وو تا پهٔ اين او پهٔ آن پوهـ کړ

زهٔ څهٔ وېلے شم او څهٔ به مې وئيل وي
خداے خپل وايي عالمونو له رحمت يې
عقيده نهٔ ، د تاريخ پاڼې ګواه دي
عدالت يې، شجاعت يې ، مروّت يې
ستا ځولۍ ته چې درپرېوزي اسوده شي
د جنت د نعمتونو علامت يې
لهٔ آدمه تر ابده يارسولهﷺ
خداے ګواه دے تهٔ محسن د آدميت يې
ما خو پرېږده اُمتي يم خو نور وايي
ټيك يې مات شه چې لېلىٰ باندې تور وايي

# وضاحت

ملګرو! تاسو تقاضا کوئ چې څۀ واوروم
ترخۀ مو ډېر واورېدل نن دې څۀ خواږۀ واوروم
خو زۀ ډارېږم هسې نۀ چې بیا ترخۀ واوروم
دا به ښه نۀ وي چې خولۀ وګنډم هیڅ نۀ واوروم
که نۀ وي تاسوبه لۀ ځان سره غمژن کړم واړه
تاسوبه هم لکه چې زۀ یم پك پمن کړم واړه

تاسو یې نۀ وینئ چې ګل سره ګلچین څۀ کوي
دا د تخریب زامن د خداے پۀ پاك زمین څۀ کوي
داتورپګړي اوسپین پګړي دخداے پۀ دین څۀ کوي
د ټپ مچان دي دا کوررنګي پۀ ګبین څۀ کوي
پۀ داسې حال کښې تاسواووایئ وئیل به ښۀ وي
بده یې مه ګڼئ دعا او که کنځل به ښۀ وي

نۀ د قاضي فتویٰ ، فتویٰ ده منصبدار دپاره
نۀ د ملا اذان ، اذان دے دنیادار دپاره
ژوند تېرول درومي ګرانېږي حیادار دپاره
د حق پۀ نوم هیڅ رعایت نۀ شته نادار دپاره

بس څو یاران د قسمتونو فېصلې لاروي
څو پنډتان د "سب اچھا" مسئلې لاروي

پرونه خوارۀ دا پۀ مردارو ګرګسان نۀ وینۍ
هاغه د ګل عصمت لوټونکي بوراګان نۀ وینۍ
دا د حقوق محافظان خو غاصبان نۀ وینۍ
دا پۀ قدم قدم واړۀ واړۀ خدایان نۀ وینۍ
که تپوس عېب نۀ وي داجبربه ترڅوپورې وي
دا پۀ کتاب ختلو کبر به تر څو پورې وي

اوس تاسو وایئ د خوښۍ اشعار وئیل پکار دي
که د ملت پۀ بې وسۍ ابیات لیکل پکار دي
لکه کاڼۀ ړاندۀ د بل پۀ خولۀ خندل پکار دي
که د حالاتو پۀ کاږۀ چلن ژړل پکار دي

فېصله ستاسو چې مو څۀ وکړه هغه به کوم
که د نارې مو اجازت راکړو ناره به کوم

*********

# سپینې سپینې

خدایه خدایي نه دې لوګے لوګے شم
زړهٔ مې راډك شو تشول یې غواړم
د یاس لهٔ اوښکو مې کاسې د سترګو
تر مورګو راغلې نیمول یې غواړم
زبان بندي مې ډېره وګالله
که دوزخي شم خلاصول یې غواړم
د مصلحت للو مې ځوانې جذبې
ډېرې اودې کړې ویښول یې غواړم
غواړم چې تاته مې ګفتار ورسي
خبر پهٔ نصیب مې دار یا نار ورسي

تهٔ خو مې هڅو لهٔ مغزو خبر یې
خدایه رښتیا زهٔ انتشار خوښوم ؟
تهٔ خو زما لهٔ ارادو خبر یې
اے زهٔ هر چاته بېله لار خوښوم ؟
ستا خوشنودي چې وي مضمره پکښې
تهٔ خو مې وینې زهٔ اٗ کار خوښوم

چې تا او ستا دوست چې ستائیلے وي نهٔ
هغه ګفتار هغه کردار خوښوم
خو بیا هم ډېرو ته بد ولې ښکارم
پهٔ سمه لار ورته رد ولې ښکارم

ایله بیله دغه ګناه ده زما
چې زهٔ پښتو ستایم، پښتون ستایمه
د خلق پهٔ سترګو کښې اغزے پهٔ دې یم
چې زهٔ غېرت نه ډك ژوندون ستایمه
پهٔ اقتدار مئین پهٔ دې یادېږم
چې زهٔ د خدا ے رسولﷺ قانون ستایمه
د غدار نوم باندې مې ځکه بولي
چې د قام نن ژاړم، پرون ستایمه
لهٔ دې سِوا دې څوك څهٔ پور کړي پهٔ ما
که ګرم یې کړم نو بل دې اور کړي پهٔ ما

خاونده تهٔ هدایت وکړې ورته
دا د زړهٔ مست دې نور ما نهٔ کړوي
زمانې نور هم ژړولے یم ډېر
دا ظالمان مې دې نور نهٔ ژړوي

اوبهٔ دې توپې د تعصب پهٔ اور کړي
اړخ پهٔ اړخ ما دې ورته نهٔ اړوي
سپي دې ورتم کړي چې مې نهٔ غپوي
د دوئ لهٔ خېره مې شل وارې توبه
هسې نهٔ خولې سره ترخې کړو ربه
لنډې قيصې سره اوږدې کړو ربه

اخر انسان يم زړهٔ د غوښې لرم
پهٔ بدو بد ، پهٔ ښو خوښېږم خدايه
چې زهٔ يې اورم بل مې مينه غندي
ګرم به وم زهٔ که وکټېږم خدايه
د صبر ضبط خو هم څهٔ حد وي کنه
بس تمام عمر به صبرېږم خدايه
خواست کوم يا مې زړهٔ مراد پوره کړه
يا مې خوندي کړه زيات شرمېږم خدايه
که نهٔ وي برېد پهٔ لېونتيا کومه
خلق ته پهٔ سپين ډګر ګډا کومه

* * * * * * *

# شواخون

کور په کور ګرځم لټومه د جرګې ملګري
د ژوندي زړهٔ ، ژوندي ضمير د نظريې ملګري
چې نهٔ په زر، نهٔ په زاري نهٔ په زورچاته ټيټ شول
د پښتنو قامي نشان، جګې جنډې ملګري
چې خپل کاروان منزل ته بيايي سپي ته پښه نهٔ نيسي
وايم راجمع کړم د داسې حوصلې ملګري
چې وظيفه يې خداے دپاره د انسان خدمت وي
راغونډوم د يوې خولې يوې قيصې ملګري
که بريالے شوم نو ايله به مې ارمان پوره شي
ورسره سم به بيا مقصد د باچاخان پوره شي

زما کاروان کښې راسره دي ډېر په لار ملګري
ډاډه شم وايم چې ميندهٔ مې کړهٔ د کار ملګري
ګمان مې وشي چې مرام ته به زر ورسېږم
راسره ملهٔ چې دي دا دومره ډېر تيار ملګري
خو د حالاتو کړلېچونه، د وخت سخت پېچومې
چې کله مخکښې راشي ټول شي تار په تار ملګري

ځينې خواري مړۀ کړي اوځينې څوك پۀ زهرومړۀ کړي
ما سره پاتې شي پۀ لاره يو څو خوار ملګري

خوزۀ مايوس نۀ يم خزان به ځي سپرلے به راځي
چې "منتظر" يې يم هغه ښکلے لالے به راځي

*******

# قبائيل

لۀ چتراله تر بولانه
يو وجود دے يو بدن دے
داسمان ترسيوري لاندې
داتورغرونه يې مسکن دے
سرشيندونکي ننګيالي دي
ښائيسته پرې ټول وطن دے
تاريخ يوکوهکن پېدادے
دلته هريوکس کوهکن دے
دوطن تورزنې مټې
چې پۀ هرځاے کښې يادېږي
هغه دغه پښتانۀ دي قبائيل چې بلل کېږي

ست و پت يې ، ژوند او ژواك يې
ننګ او جنګ د دوئ جامه ده
يارانه او دشمني يې
لکه تور کاڼے پخه ده
که يې سر ځي که يې بر ځي
پت پالل يې وظيفه ده

دنيا سل ژبې اختيار کړې
د دوئ لا هغه يوه ده
وخت روان دے ځي بدلېږي
خو چې يو دے نۀ بدلېږي
**هغه دغه پښتانۀ دي قبائيل چې بلل کېږي**

خلق وايي زۀ يې اورم
وايي دغه اولس ازاد دے
لوږې تندې پکښې نۀ شته
هر يو کس يې ښاد اباد دے
زۀ تپوس کوم لۀ تاسو
وايئ تاسو پۀ دې صاد دے
زۀ خو خپل ترې انکاري يم
هم پۀ دې مې انتقاد دے
د غلام قانون پنجه کښې
وچ پۀ زور چې ساتل کېږي
**هغه دغه پښتانۀ دي قبائيل چې بلل کېږي**

يوه خاوره يوه وينه
يو مو زړۀ دے يو مو ځان دے

یو مو کور یو مو نغرے دے
یو مو سود دے یو مو زیان دے
یو مو دود یو مو دستور دے
یو مو دین یو مو ایمان دے
د مقصد تر حده پورې
یو هدف یو مو ارمان دے
خو د خاص نظام لهٔ رویه
مونږ نه ګوشي حسابېږي
هغه دغه پښتانهٔ دي قبائیل چې بلل کېږي

چې د ملك پهٔ خاطر وینې
تویولو ته حاجت شي
د سرکار او عوام دواړو
ورسره ډېر محبت شي
قصیدې یې لوستے کېږي
پهٔ هر لوري یې صفت شي
خو چې کله لهٔ سر تېر شي
خپلو وینو کښې لت پت شي
نو تهمت د لوټمارانو
او ډاکوانو پرې لګېږي
هغه دغه پښتانهٔ دي قبائیل چې بلل کېږي

# اختر

هرکلے دې پۀ ما فرض دے
چې مېلمه يې اے اختره !
خو پۀ خداے که پۀ راتلو دې
زۀ ذره قدر خوشحال يم

يم پښتون مېلمه کوم به
دې ارومرو خو ګوره
که خاطر دې ښۀ ونۀ کړم
ګرموه مې مه بدحال يم

تۀ ګيله کوې اختره !
استقبال مې ستا ونۀ کړ
اے کاش مخے له درتلے شوے
دې تنې تنې جامو کښې

راشه زړۀ ته مې راکوز شه
رانه غلے تپوس وکړه

چې ورتۀ ورتۀ اوښکې دې ولې
نن غرېږي پۀ لېمو کښې

راشه کور ته دې چې بوځم
بيا به وايې دروغ وايې
نندارہ پۀ خپلو سترګو
مې د کور د محلت وکړه

بل څۀ تۀ به هم پۀ خپله
خندا پرېږدې اوبه ژاړې
مشاهده د خړ پښتون ژوند
که تا هم يو ساعت وکړه

د ټبر قميص پرتوګ مې
د بل چا د کتو نۀ دے
هم د مور لۀ لوپټې مې
د اسمان ښکارېږي ستوري

د بچو د بربنډۍ به
درته څۀ ستاينه وکړم
دومره پوهـ شه اے اختره
نيم پۀ لمر دي نيم پۀ سيوري

اے که ترمې ترمې اوښکې
وچه پياځه او اُهونه
مېلمستيا که قبلوې تۀ
بسم اللّه کوه کښېږه

چې پۀ څۀ قدرت لرمه
دا ستا مال دے او که نۀ وي
نو شتمنو کره درومه
مونږ بې شتو باندې تېرېږه

هلته غوښې ، غوړي ، وريجې
شته زرينو رکېبو کښې
هم سرې وينې د خوارانو
د مے شکل کښې موندے شي

هلته حسن او شباب شته
هم محفل د راګ او رنګ شته
ستا پهٔ شان مېلمه اختره !
پکښې ښهٔ خوشحالېدے شي

هو که مرګ وي پښتانهٔ له
چې نهر ترې مېلمه درومي
خو چې نهٔ کېږي اختره !
بيا لهٔ نهو(۹) کُړوو نغن نهٔ شي

زهٔ به کاڼې پهٔ زړهٔ کښېږدم
تهٔ شه لاړ عشرتکدو له
زهٔ به وخت ته "منتظر" وم
خو چې ستا زړهٔ غمژن نهٔ شي

* * * * *

# مفتاح العلوم ټانك

دټانك ګمنام غونډې مقام کښې خوځېدونکې چینې
د دین کامل سوچه ګوهر راخوځوونکې چینې
د علم حق د تږیو تنده ماتوونکې چینې
شان پۀ تیارو کښې د آبِ حیات لرونکې چینې
تر څو چې دا دنیا ودانه وي ودانه اوسې
دعلمیت فېض رسوونکې فېض رسانه اوسې
مدرسې ستا خړو پوزو نه قالینونه ځار شه
ستا خړکي غونډې مکان نه محلونه ځار شه
ستا د طلبأ سپینو پګړیو نه تاجونه ځار شه
ستا لۀ ساده ماحول د راګ رنګ محفلونه ځار شه
تا طالبان د تخلیق راز نه د آدم خبر دي
هم یې لۀ دین دمحمّدخېرالامم ﷺ خبر دي
کوم بختور دې بنا وکړه چا څرګنده کړلې
پۀ برکت د چا ژوندۍ شوې چا بلنده کړلې
چا تعاون درسره وکړو چا رخشنده کړلې
کومو نېك بختو درکړو لاس اے چا دوچنده کړلې
خداے یې پۀ لوري شه ملګرے یې رسول وګرځه
هرنېك اقدام یې پۀ درګاه درب قبول وګرځي

مدرسې تا پورې مې زړهٔ ته تېر وختونه ياد شول
د خپل اسلاف مې نمايان شخصيتونه ياد شول
د دين مذهب مې د دوئ کړي خدمتونه ياد شول
هم پهٔ دوئ تېرمې پهٔ دې لارکښې تکليفونه ياد شول
څهٔ ګپې نهٔ دي پهٔ خوارواسلام وسعت موندلے
د چا لهٔ ژبې او قلم اسلام شهرت موندلے
اسلام تيار راغلے نهٔ دے پرې وختونه تېر دي
پهٔ جوړوونکو يې ډېر کلك ازمايشونه تېر دي
اسلام ځان باندې د قېصر، کسرىٰ تاختونه تېر دي
پهٔ قبلوونکو ژوند وړونکو زحمتونه تېر دي
غونتاً حال د خبيب رض د قرباني وپوښته
يا يې لهٔ شېخ عبدالعزيزالکناني وپوښته
اسلام پهٔ کټ کښې ځان ته ناست داللّٰه هونوم نهٔ دے
اسلام د نذر، شکرانې ، د دم او چُو نوم نهٔ دے
اسلام دډول،چنګ اورباب، شرنګ دګونګرونوم نهٔ دے
اسلام عبث او د بېکاره ګفتګو نوم نهٔ دے

اسلام قرآن او پهٔ حديث عمل کول ته وايي
هم پهٔ دې لارکښې ځان جهان نه تېرېدل ته وايي

*******

# ځواني

تېرې ځوانۍ پسې غبږ وکړه لرې تللې نۀ ده
هاغه ده درومي خو نظر نه لا وتلې نۀ ده
داسې ليده شي لکه تا چې پېژندلې نۀ ده
لکه مات لاس دې پۀ سينه پورې نيولې نۀ ده

ځواني چې وي نو وي چې لاړه شي نوبيانۀ راځي
ځواني انا لري دعا او پۀ دوا نۀ راځي

ځواني نادانه وه د ښۀ او بد تميز يې نۀ وو
جذبات جذبات وه واړه سر ترپښوبل څيز يې نۀ وو
تۀ يې هر څۀ وې بې لۀ تانه بل عزيز يې نۀ وو
پۀ تا يې لاس وو اچولي بل غوريز يې نۀ وو

چې درسره وه رښتياوايه تايې خيال کړے دے؟
که پۀ قدم قدم ددې دې استحصال کړے دے؟

هغه ځواني چې درسره وه تۀ بهار بهار وې
تۀ به مستۍ کښې وې بې مَيو به خمار وې
خو تا ځواني غلطوله تۀ مکار عيار وې
هغه ځواني پۀ برکت يې چې تۀ يار نګار وې

اوس يې پۀ ړنګوپلونوکښېنه پۀ بېلتون يې ژاړه
هاغه ده درومي ځواني لاړه درنه لاړه لاړه

ځواني ماشومه وه تر ګوتو ګرځوله به دې
مسته احمقه وه پۀ تور سپين پوهوله به دې
ځواني خو پاکه اوښکه وه پاکه ساتله به دې
خپل به دې خوند ترې اخيست نورو نه ساتله به دې

رب ملغلره وه درکړې خو کونجکه دې کړه
اوس لکه مچ لاسونه مږه پسې ورکه دې کړه

*******

# دېره لوګه شوه

( د سردار حقنواز ګنډه پور پهٔ یاد کښې )

********************************************

تویٔ شوله بیا د یو پښتون شاه زلمي وینه تویٔ شوه
د حق پهٔ حق کښې څهٔ پهٔ نره څهٔ پهٔ مینه تویٔ شوه
سامراج که څوپهٔ خپل زرین فکرپهٔ شپه کښې تویٔ کړه
خو سترګورو ته ښکاره لهٔ ماسپښینه تویٔ شوه

د حقنواز مرګ خلق لهٔ لوري د اسمان یادوي
بې اسرې خلق ته حقیقت نهٔ بې نشان یادوي
خو د سردار نیازبین وجود باندې اٰ سرهٔ داغونه
د حال پهٔ ژبه ګوزارونه د انسان یادوي

یه خدایه! دویٔ خو فېصله وکړه چې تا شهید کړو
د امریت دښمن اٰ کوکي خان برېښنا شهید کړو
خو د دېرې ماتمي اولس ، چا چې پهٔ ځیره ځیر دے
نارې وهي چې چا پهٔ غلا او پهٔ دغا شهید کړو

اے محنت کشو، اے خوارانو بې اسرې ملګرو!
د ګرد وطن د پښتونخوا اے د دېرې ملګرو!
ټول لاس تر لاس شئ دومره چغې او نارې اووهئ
زمکه څۀ، پاس چې دعرش اوخوځي کنګرې ملګرو

د حقنواز پۀ مرګ پۀ جمع اظهرخان خبر کړئ
بهټو خبر کړئ پۀ شېرپاوکښې حيات خان خبر کړئ
د پښتنو د کاروان مير خان ولي خان خبر کړئ
د کلاچي هغه سردار عنايت الله خان خبر کړئ

مونږ حقنواز غواړو بې دۀ واړه دېره لوګه شوه
والله کټ مټ لکه د خوارو هديره لوګه شوه
بچي يتيم شول،مېندې بورې،خوېندې وراړې شولې
د جمهوريت د شاه زلمي د سر سهره لوګه شوه

خو ګورئ اوښکې چې لۀ سترګو پسې تويې نۀ کړئ
پښتون زلمے وو، ننګيالے وو پرې ازار يې نۀ کړئ
که درنه کېږي هغه دۀ نه پاتې شوے مقصد
تکميل ته اورسوئ شا لور ته ګوزار يې نۀ کړئ

❊❊❊❊❊❊❊❊

# اور

هغه چې مابه وېل چې لرې پاس لۀ توروغرونو
لوخړې خېژي معلومېږي چې اور ولګېدۀ
راځئ د امن اوبۀ يوسو چې دا اور اووژنو
څۀ به کوئ که مو پۀ کلي پۀ کور ولګېدو

خلقو زما د روغ نېتې ناري پۀ غوږ تېرې کړې
بل خوا ته اور وو وار پۀ وار د غرۀ لمن ته راتلو
خړې دامان ته راتلو هم ګل و ګلشن ته راتلو
اور پټ ښکاره وو راروان د دوئ وطن ته راتلو

بيا نابيبر لۀ يوۀ کلي سره لمبه پورته شوه
درز شو لۀ تور لوګي رڼا ورځ توره شپه پورته شوه
ځنې وريتۀ شول ځنې ژوبل ډېر کورونه ړنګ شول
پۀ يوۀ ساعت کښې د ګرد کلي جنازه پورته شوه

اور سپلانے دے لويو لويو ښاريو ته درومي
اور وَ جماعت ته درومي، اور وَ مدرسو ته درومي

اور عوامي دے د عوامو وَ جرګو ته درومي
اورپهٔ جلوس کښې وي شامل،اوروَجلسوته درومي

اور څوك لهٔ هند نه نهٔ راوړي نهٔ د کابل خلق دي
د مړو او ژوبلو سوداګر دي زمونږ خپل خلق دي
څو مقتدر مفادپرست وَ اور ته پيڅه وهي
تور بوراګان دي پهٔ جامه کښې د بلبل خلق دي

پهٔ مصلحت ژوند نهٔ تېرېږي بس ناره پکار ده
مظلوم عوام ته يوه دا رنګ فېصله پکار ده
چې نهٔ به اور سره ياري کړي نهٔ اورزنو سره
د هر يوکس لهٔ خپل ضمير سره وعده پکار ده

پرهر پرهر امن به بيا نوے صحت مېندهٔ کړي
زمونږ لهٔ خوانه چې بې کچه محبت مېندهٔ کړي
بيا به دامن پهٔ خوښۍ کښې غرهٔ پهٔ سمه عيدشي
که دااونهٔ شي بياامکان شته ملك قيامت مېندهٔ کړي

********

# خوالهٔ

اے شاعرانو ورونو !
اے اديبانو ورونو !
اے سترګورو خلقو !
اے دردمندانو ورونو !

پهٔ دې ستمنه خاوره
پهٔ دې پتمنه خاوره
چا ظلم وکړلو؟
پهٔ دې خوږمنه خاوره

هلته هم زهٔ قتلېږم
دلته هم زهٔ قتلېږم
پهٔ نمرخاتهٔ قتلېږم
پهٔ پرېواتهٔ قتلېږم

څوك داسې چل رازده کړئ
چې زۀ بيا نۀ قتلېږم
چا ته دښمن اووايم
د چا پۀ خولۀ قتلېږم؟

ګورئ ورکېږم څمه
بې نومه کېږم څمه
لکه د شګو کمر
ورو ورو دوړېږم څمه

تاسو زړۀ سواندي خلق
د ظالم لاس مات کړئ
پۀ فراصت او صحت
لاس د خناس مات کړئ

کنه که زۀ مو ورك کړم
تاسو نيمګړي به شئ
منم چې پړي به يئ
ولې يوچړي به شئ

ما خو تر عمره عمره
د امن لار اخیستې
لهٔ چا نه پته نهٔ ده
ده مې پهٔ جار اخیستې

د چا پهٔ خولهٔ مې خوار شه
ما دښمنۍ ته دیکي
ولې د مینې خاوره
مې بدامنۍ ته دیکي

لهٔ ما سره دې کنبېني
ما دې جرګه کنبې پېر کړي
که چېرې ګرم يې کړمه
بیامې دې خېردے مړکړي

چې بې جرګې مې وژني
بې مرکې مې وژني
بیا خو ښکاره قیصه ده
پهٔ دسیسې مې وژني

پهٔ داسې حال کښې بيامې
چاته سر نهٔ ټيټېږي
زهٔ خو ځان غر بولمه
چاته غر نهٔ ټيټېږي

چې ما لهٔ ځان شوکوي
ځان لهٔ جهان شوکوي
سبا به سر او ږيره
پهٔ ډېر ارمان شوکوي

❋❋❋❋

# زهرمهره

چا راته وېل خبر يې پاس خو بل چا وګټله
د کابل زمکه يې پۀ سپينه رڼا وګټله
ما وېل رڼا رڼا تيارۀ تيارۀ وي خولۀ پټه کړه
ټول خلق خبر دي چې پۀ زور يې د چا وګټله
د يو انګرېز هم د کابل منهو ته زړۀ شوے وو
يوه ټوټه يې چې پۀ غلا او دغا وګټله
خو افغانانو د خپل نيکۀ د ننګ پۀ توره
فرنګ يې سټ کړو خو خپل قام له يې ساه وګټله
داسې پخوا هم د غازي امان الله ورځو کښې
د شوربازار ملا پۀ مرسته سقا وګټله
خو چې پښتون کله بېدار شو نو راولټېدو
لۀ غاصبانو خپله خاوره يې بيا وګټله
پرونۍ ورځ وه روسيه لېوني سپي وخوړو
افغان يې خوړ خپله يې ځان له فنا وګټله
خو د افغان د بدبختۍ قيصه لا لنډه نۀ ده
د وروروژنې خونړۍ قيصه لا لنډه نۀ ده

نن بیا خارج نه تورلېنګي ناپېژندلي خلق
د کابل زمکه باندې پوښې غورمچونه وهي
دا خلق څوك دي او د چاپهٔ نغوته مېنځ ته راغلهٔ
دا چې نهر افغانستان کښې تلبرونه وهي
دغه بیا کوم شوربازاري ملا فتویٰ جاري کړه
چې د غازي امان الله د قام سرونه وهي
پردۍ اسپه ده او چغه هم دروغ مروغ ده
پردے خارجي پردو کورونو ته سندونه وهي
پښتانهٔ جر باندې مست شوي دي کاڼهٔ ړاندهٔ دي
د غېر پهٔ خولهٔ د ورور پهٔ ټنډه سرهٔ خالونه وهي
افغانستان دے زهرمهره څوك به يې هضم نهٔ کړي
خبردے که غېرغمازپرې هرڅومره شخوندونه وهي

د تاریخ پرېکړې ته به واړه "منتظر" اوسېږو
څهٔ کېږي څوك يې کوي؟دې ته به ناظر اوسېږو

* * * * * * *

# وران برلن

زۀ د واړۀ جبرالټر غونډې پۀ څوکه ناست وم
د واړۀ کېمپ دمغلخېل اډې بازار مې کتو
چې د واړۀ وزیرو زړۀ وو هم يې لاس و پښې وو
اډې ته ځخت اٰ پۀ ماهیو ښکلے ښار مې کتو

کېمپ ښکارېدو او سپين چتونو يې برېښنا کوله
سپاهيان ليدل مې چې پۀ ګراونډکښې کسرت کولو
د سپين جماعت سپيکر ولاړ وو زبون وهلے غونډې
هغه چې تل به يې تلقين د اخوت کولو

لۀ واړۀ پاس شولم لارې ته مې سترګې لاړې
بار کړې ايشې د اوښانو بهير نۀ ښکارېدو
پۀ شنو رغزو مې غوا او غيلې کتې نۀ مې ليدې
لروبر ښکته پورته يو هم وزير نۀ ښکارېدو

لۀ ډېره لرې مې يو دوه تنه نظر ته راغلۀ
څۀ يې بار کړي وو پۀ ځان، پۀ ټيټه ملا روان وو
کله به يې پښه ونيوه وروسته به يې مخ واړوۀ
لکه د مړو پورووړي پۀ غلا غلا روان وو

ورکوز شوم ، ورغلم، تپوس مې وکړو ، يه ملګرو!
دا مو لۀ کلي برباد شوے برلن څنګه جوړ شو؟
نۀ د سپي غپ اورم او نۀ څوك بندي كس ليدۀ شي
دا علاقه لکه د مړيو مدفن څنګه جوړ شو؟

وئيل يې ميږ دې پېژني نۀ چې تۀ څۀ سړے يې
خو لۀ رنګ داسې ليدۀ کېږې چې تۀ ښۀ سړے يې
پۀ ميږه څمره سخته تېره شوه چا ژغ ونۀ کړ
چې دې د ميږ پيښتنه وکړه بس يو تۀ سړے يې

واوره د ميږه ګناه دا ده چې پۀ خپله خاوره
لکه د غرۀ کاڼي پۀ امن ښۀ درانۀ اوسېږو
د ځينې نورو غوندې هر غوږ ته سلام نۀ کوو
پشتو پالو او پۀ هر حال کښې پشتانۀ اوسېږو

د تخریبکار او شرپسند په تور یې مونږ تورن کړو
یوه صاحب خو لا په مونږ څۀ بل الزام وتاپۀ
زمونږ وجود یې ملك او قام ته خطره اعلان کړه
په مونږ یې کفر اوپۀ ځان یې غټ اسلام وتاپۀ

په دې بونه یې د میږ کور او بازار کنډکپر کړو
ملکي عسکر د مجاهد ځان ته خطاب وګاټۀ
میږخو یې خوار کړو خو ظالم دې قیصې نۀ هېروي
په خپلو کړو یې ځان ته ټول عمر عذاب وګاټۀ

*******

# "اغيار له ورکوي خلق ګټلے وطن بيا"

قاصد دې د حالاتو دا خبر راباندې کړے
وې پاڅه اودۀ قامه څو به پروت يې لکه مړے
د ملك نقلي واکدارو مصلحت دے سره کړے
چنجي د منافرت باندې دې خوري د وحدت زړے
قيصه بنا کوي درته د دار و رسن بيا
اغيار له ورکوي خلق ګټلے وطن بيا
کوم ملك چې پۀ بې شمېره قربانو وو مونږ ګټلے
پکښې د ازادۍ مو ښکلے باغ وو لګولے
پښتون يې حفاظت ته چې ولاړ وو ملا تړلے
لۀ هر مُضِر عنصر يې چې پۀ نره وو ساتلے
اورم چې دي راتلونکي ورته زاغ و زغن بيا
اغيار له ورکوي خلق ګټلے وطن بيا
سر پورته کړه لۀ خوبه دغه لروبر څۀ کېږي
د چا پۀ نغوته دا زمونږ د قام وينې بهېږي
قاتل او مقتول دواړه پښتانۀ دي چې ژوبلېږي
پۀ زمکه تور لوګے دے لۀ اسمان ږلۍ وربږي

چترال نه تر بولانه مې سوزېږي وطن بیا
اغیار له ورکوي خلق ګټلے وطن بیا
پښتون يې که افغان يې ځانځاني پرېږده يوقام شه
اودس د عزم وکړه مقتدي د خپل امام شه
دا چا دي درته وېلي چې غلام د بل غلام شه
ساده باده پښتونه لږ خبر لۀ خپل مقام شه
د نن وخت تقاضو څخه خبر کړه تومن بیا
اغیار له ورکوي خلق ګټلے وطن بیا
پخپله خپله پښه پۀ تبر غوڅه کړې بیا ژاړې
نارې سورې وهې هغه تېر شوے ساعت غواړے
خو نۀ راځي وَ خولې ته بیا یو ځل توکړې لیاړې
خبر شه که دې نن سبا پښې رد لوري ته لاړې
نو واوره کړه تیار درته خپل ګور و کفن بیا
اغیار له ورکوي خلق ګټلے وطن بیا
قیصه المختصر که سلامت دې خپل ایمان وي
خیالات دې که اے قامه موافق لۀ باچاخان وي
یقین وکړه حاصل به درته بیا هغه زوړ شان وي
یوه دا نۀ، پوره به دې د هر قسم ارمان وي
اقوام کښې دعالم به پاس وي ستانشیمن بیا

************************

# وسوَسې

کله کله زړۀ کښې راشي
زما هم يوه بنګله وے
دوايټ هاوس غوندې وے سپينه
يا د کريملن غوندې سره وے

که برګئ وے که چرګئ وے
زېبرا کراس وے يا که شنه وے
چې د کومې جنډې وخت وے
پۀ کور لکه مې هغه وے

"مال ګټه مل دې سر اوخوري"
زما دغه نظريه وے
بس د چرګ اوږده لکئ وے
د هوا پۀ مخ کږه وے

نۀ مې خېر نۀ مې خېرات وے
نۀ مې ننګ نۀ مې مېلمه وے
بيا به هم زۀ محترم وم
چې مې ښه ډېره پېسه وے